# ستوري

نوی پیل، پنځمه ګڼه، پسرلی - اوړی ۱۴۰۳

دافغانستان اسلامي امارت

د بهرنیو چارو وزارت

د افغانستان اسلامي امارت بهرنۍ سیاست

**اسلام اصله | متوازن | اقتصاد محوره**

## ۲۴ اسد

**د اشغال د پای او اسلامي امارت د بریا**
**د درېیمې کلیزې په ویاړ ځانګړې ګڼه**



# ستوري

د افغانستان اسلامي امارت
د بهرنیو چارو وزارت

نوی پیل، ۵مه گڼه، پسرلی/اوړی ۱۴۰۳ - ۲۰۲۴

## د اشغال د پای او اسلامي امارت د بریا د درېیمې کلیزې په ویاړ

**د امتیاز خاوند**
د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت

**مسوول مدیر**
عبد القهار بلخي، د ویاند دفتر او عامه اړیکو رییس

**کتنپلاوی**
دکتور عبد الجبار بهیر، حافظ ضیاء احمد تکل، مفتي نور الله عزام، عبدالرشید صافی او سید نذیراحمد هاشمي.

**سکښتنه او اوډنه**
محمد ادریس نبیل

+۹۳ (۰) ۲۰ ۲۱۰ ۰۳۷۲
publications@mfa.gov.af
mfa.gov.af
@mofa_afg
ملک اصغر څلور لارې، کابل ـ افغانستان

د بهرنیو چارو وزارت
د ویاند دفتر او د عامه اړیکو ریاست

**یادونه**

د مجلې اداره د لیکنو په سمون او اوډون کې واک لري.
د ستوري مجلې اداره د لیکوالانو د سیاسي، اقتصادي، کلتوري او ټولنیزو لیکنو هرکلی کوي.
د ستوري مجلې د حقونو ټول واک د بهرنیو چارو وزارت د ویاند دفتر او عامه اړیکو له ریاست سره دی. د سرچینې په یادولو سره، د مجلې د لیکنو او محتوا اخیستنه اجازه لري.
هغه لیکنې چې د لیکوال نوم ورسره یاد شوی وي، د بهرنیو چارو وزارت د سیاسي اندونو استازیتوب نه کوي.

**سرلیکونه**

۱. پیلیزه، د اسد ۲۴مه
۲. اقتصادمحوره او متوازن بهرنی سیاست
۳. په تهران کې د فلسطین په اړه نړیوال کانفرانس ته د بهرنیو چارو وزیر وینا
٤. په تاتارستان کې د مسکو فارمټ ناستې ته د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي وینا
۵. د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت درېځ کلن سیاسي مزل (ځانګړی راپور)
٦. متوازن او اقتصاد محوره سیاست
۷. د افغانستان اسلامي امارت سیمه‌ییزه ډیپلوماسي
۸. پر ایکس رسنۍ د بهرنیو چارو وزارت د پسرلي او اوړي فصلونو خبرونه
9. Speech by Honorable Zabihullah Mujahid, Head of the Delegation of the Islamic Emirate of Afghanistan, at the Inauguration Ceremony of the Doha Meeting.
10. IEA – Foreign Minister's Speech at the "Afghanistan's Regional Cooperation Initiative" Conference.

# پیلیزه، د اسد ۲۴مه

بسم الله الرحمن الرحیم

د اسد ۲۴مه ۱۴۰۱، په هېواد کې د اسلامي امارت د بریا او ویاړلې فتحې ورځ ده. درې کاله مخکې په همدې ورځ د امریکایي یرغل ټغر ټول او د ښکېلاکګرو او د شل کلن اشغال په پای کې هېوادوالو د خپلواکۍ ساه واخیسته او د یو هوسا، ارام او سوکاله ژوند د پیل په تکل یې د همدې ورځې په سهار د کابل په دروازو کې د سپینو بیرغونو په بدرګه د مجاهدینو هر کلی د الله اکبر په نارو کولو.

د شل کلن امریکایي اشغال له ناورین څخه د ځوربدونکي ولس زړونو په پوره باور منلي وه، چې نور یې په هېواد د اسلامي امارت د واکمنۍ مراندې په ټینګېدو دي او دا انګېرنه هغه وخت لا پیاوړې شوه، چې غرمه مهال د کابل اداري ټولو نظامي او ملکي کارکوونکو په ځغا سته له وزارتونو او دفترونو تېښته خپله کړې وه او بیت المال یې بې څښتنه په تش میدان تر شا پرېښی وو.

د خپلواکۍ ویاړ هغه مهال یو ځل بیا په ولولو شو، چې ورو ستی امریکایي سرتېری د کابل له هوايي ډګره په نیمه شپه له خپلو پاتې شونو سره یو ځای له افغانستانه په دا سې حال کې ووت، چې مجاهدین خپل پالونکي ته د شکرانې په سجده پراته وو او د خوښۍ په نمجنو سترګو یې د تېښتې ننداره کوله. د نیمي شپې دا شیبې هغه مهال لا په ولولو شوې، چې د خپلواکۍ د لمانځنې جشن تول هېوادوال هېښ کړل او له همدې شپې اسلامي امارت یو ځل بیا د هېواد د بشپړې خپلواکۍ زېری وکړ.

هو، د اګست ۱۵مه د هېواد په معاصر تاریخ کې د افغانستان د مېړني ولس لپاره په یوه پېرۍ کې له دریېمې لویې امپراتورۍ او ښکېلاکګرو څخه د خپلواکۍ ویاړلې ورځ ده، چې دا ځل الله جل جلاله دا ویاړنه د افغان مجاهد ولس په ملاتړ د افغانستان د اسلامي امارت په برخه کړه.

نن، د افغانستان اسلامي امارت واکمنې د دریېم کال په درشل ولاړه ده، په تېرو دریو کلونو کې له هغې ورځې راپدېخوا چې د امیر المؤمنین – حفظه الله تعالی- له اړخه د اسلامي امارت د بریا او ویاړلې فتحې په پار د اسلامي نظام بشپړ حاکمیت اعلان شو، کورنیو مجرمینو او د امریکایي اشغال لاسپوڅو ته عمومي عفوه وشوه او له ټولو هېوادوالو وغوښتل شول چې خپل عادي ژوند ته راوګرځي او د هېواد د ابادۍ او سوکالۍ په لړ کې خپل ا سلامي او افغاني مسوولیت تر سره کړي؛ نو له شک پرته -لله الحمد- افغان ولس او حاکم نظام د تېرو دریو کلونو په لړ کې خورا لویې لاسته راوړنې لري او له بل هر وخته یې ژوند او حاکمیت پیاوړی شوی دی.

د ۱۴۰۱ سنبلې په ۱۶مه، چې د اسلامي امارت زعیم امیر المؤمنین -حفظه الله- د افغانستان لپاره لومړنۍ کابینه

اعلان کړه، د بهرنیو چارو وزارت مشرتابه ته د پیاوړي مجاهد او مدبر شخصیت، چې د امارت د تېر او او سني دواړو دورو د رهبرۍ له غړیتوب سربېره د سیاسي او فرهنګي زړورې مبارزې ویاړ هم لري، له ټاکلو سره سم د بهرنیو چارو وزارت چارې او کړنې عملا پیل شوې.

د بهرنیو چارو وزارت په تېرو دریو کلونو کې د نړۍ د پېچلو سیاسي حالاتو په منځ کې خورا سترې، ځیرکه سیاسي مبارزه پیل او پر مخ کړه، د وزارت داخلي سیستم او اداري ځواک یې بیا ځلي فعال او چمتو کړ، د اسلامي امارت د شل کلن سیا ست او جهادي مبارزې د ډګر وتلي ځوانان مجاهدین یې په دندو وګومارل او بهر ته یې د اسلامي امارت ډیپلوماټان وا ستول. همدا راز یې د هېواد ژمنو، په کارپوهو او متعهدو علمي شخصیتونو ته هم د وزارت په چوکاټ کې د نظام او هېوادني خدمت زمینه برابره کړه.

د بهرنیو چارو وزارت د سیاسي مزل بل قدم په هېواد کې دننه د شته کور ډیپلوماتیک غړو او ادارو لپاره د کاري اسانتیا چاپېریال رامنځته کول او د دوی بېلابېلې چارې او کړنې همغږې او منسجمې کول وو، چې تر دې دمه د شاوخوا ۲۶سفارتونو او قونسلګریو بېرته پرانیستل، د شاوخوا ۲۲هېوادونو د نا استوګن استازي په کچه تعامل او د ډېری نړیوالو ادارو بېرته فعالېدل یې د سیاسي تعامل بل محکم قدم بلل کېږي.

له هېوادونو سره د د دوه اړخیزو او څو اړخیزو جدي بحثونو او پرله پسې خبرو اترو په پایله کې د ګاونډیو هېوادونو سربېره د سیمې او نړۍ په کچه د افغانستان د شاوخوا ۳۸ سیاسي او ډیپلوماټیکو استازولیو (سفارتونه او قونسلګرۍ) بېرته عادي حالت ته راګرځول هغه مهمه چاره وه، چې د بهرنیو چارو وزارت د کاري ا ستقامت له مخې خپلې کړنې او قونسلي چارې او خدمتونه په بهر کې مېشتو هېوادوالو او بهرنیانو ته وړاندې کوي. د یادو ا ستازولیو د اداري او مالي کړنو د ډاډ په موخه د وزارت د مشرتابه د جدي پلټنو او ارزونې په پایله کې د وزارت د عوایدو کچه لوړه او ټولې اداري او مالي چارې په بشپړ شفافیت له هر ډول درغلۍ، غش او ناغېړۍ پرته د ډاډمن اداري او مالي سیستم له مخې عادي وړاندې کېږي.

د ستوري مجلې ۵مه ځانګړې ګڼه د اشغال د پای او د اسلامي امارت د بریا د دریېمې کلیزې لمانځنې ته ځانګړې شوې ده، چې پکښې د تېرو دریو کلونو په درشل کې د بهرنیو چارو وزارت د بهرني سیاسي تعامل د مهمو لا سته راوړنو او په دې لړ کې د پرمختګونو راپورونه او معلومات وړاندې شوي دي. له دې سربېره په دې ګڼه کې د مجلې د کاري کړنلارې له مخې د تېرو شپږو میاشتو په لړ کې د بهرنیو چارو وزارت د مشرتابه د ورځنیو لیدنو، مهمو بهرنیو سفرونو راپورونه او په بېلابېلو نړیوالو او سیمه ییزو کانفرانسونو کې ویناوې هم وړاندې شوي دي.

د اسلامي نظام درې کلنه واکمني دې لا ویاړلې او اسلامي حاکمیت دې تلپاتې وي!

# اقتصادمحوره او متوازن بهرنی سیاست

په افغانستان کې د اشغال پای او اسلامي نظام له قیام وروسته، د ګڼو نورو برخو په څېر په بهرني سیاست کې هم د دې اړتیا ولیدل شوه، چې د نوو واقعیتونو په پام کې نیولو سره د افغانستان اسلامي امارت بهرنی سیاست بیا تعریف شي.

له همدې امله په تېرو دریو کلونو کې زموږ بهرنی سیاست کې د نورو اړخونو ترڅنګ توازن او اقتصادمحورۍ د دوو اساسي ستنو په توګه وګڼل شول. دغه دوه اړخونه په لنډ ډول تر بحث لاندې نیول کېږي:

**متوازن**

افغانستان د تاریخ په اوږدو کې د خپل ځانګړي جیوپولیتیک موقعیت له امله د سترو هېوادونو له رقابتونو او سیالیو څخه په منفي ډول متاثر و. یو تحلیل دا دی چې د افغانستان په بهرني سیاست کې د توازن (د سړې جګړې وخت د افغانستان سیاست متوازن و؟) له متاثره کېدو سره، زموږ هېواد د اوږدو کلونو لپاره له بهرنیو یرغلونو، کورنیو جګړو او بې‌ثباتیو سره مخ و. د افغانستان په څه باندې څلورو لسیزو ناورین کې بنایي بېلابېلو لاملونو رول لرلی وي، مګر د بهرني سیاست له اغېزو هم سترګې نه شي پټېدای.

**د افغانستان اسلامي امارت په بهرني سیاست کې «متوازن» په دې مفهوم کارول کېږي چې افغانستان ټولو هېوادونو سره د خپلو ارزښتونو په رڼا کې د مشترکو ګټو پر بنسټ فعال تعامل کوي.** د سړې جګړې پرمهال د «ناپیلتوب» یا «عدم انسلاک» اصطلاحات کارول کېدل چې د هغه وخت د وضعیت بیانوونکي وو. اوس چې نړیوال سیاست د څوارخیزتوب پر لور چټک ګامونه اخلي، د افغانستان اسلامي امارت دغه راټوکېدونکې څوارخیزتوب یو فرصت ګڼي او ټولو لوریو سره په تعامل کې متوازن بهرني سیاست ته لومړیتوب ورکوي.

متوازن د غیرفعالیت په معنا هم نه دی. له متوازن سیاست څخه فهم دا دی، چې افغانستان به ټولو سترو او سیمه‌ییزو ځواکونو سره، بې له دې چې د هغوی ترمنځ ټکرونه په پام کې ونیسي یا د یو لوري طرف ونیسي- د خپلو دیني او ملي ګټو او د هغوی د مشروع ګټو په نظر کې نیولو سره تعامل کوي.

**اقتصادمحوري**

د افغانستان اسلامي امارت د بهرني سیاست بله اساسي ځانګړنه پر اقتصادي همکاریو ولاړ سیاست دی، چې هدف ترې د افغانستان د جغرافي په کارولو سره په سیمه کې افغانستان د اقتصادي اتصال او ترانزیټ په مرکز بدلول دي.

له اقتصادمحوره سیاست موخه دا ده، چې د افغانستان ژیوایکانومیک څخه د افغانستان د اقتصادي احیا لپاره داسې ګټه پورته شي چې د افغانستان او سیمې د هېوادونو اقتصادي ګټې یو بل سره پیوند شي. دا به نه یوازې دا چې د افغانستان اقتصادي ګټې خوندي کړي، بلکې د افغانستان د ملي ثبات له لا زیات ټینګښت سره به هم مرسته وکړي.

افغانستان چې د منځنۍ او سویلي اسیا هېوادونو ترمنځ د دروازې حیثیت لري، د خپل اقتصادمحوره سیاست پر مټ غواړي چې سیمه‌ییز اتصال کې خپل محوري رول ولوبوي.

په افغانستان کې د اشغال له پای او د اسلامي امارت له تاریخي بریا وروسته چې امنیت او ثبات تضمین شوی، د سیمې هېوادونو ته یې د دې فرصت برابر کړي چې د افغانستان له لارې د ترانزیټ، انرژۍ انتقال او نښلوونکو لارې پر مټ د ټولې سیمې د اقتصادي راپورته کولو په برخه کې رول ولوبوي.

دغه بحث ته په پام، اوس لیدل کېږي چې د افغانستان په خاوره کې د ټاپي نل‌لیکې د غځولو عملي چارې د پیل په درشل کې دی. همدارز د ټاپ پروژه، چې د ترکمنستان برېښنا د افغانستان له لارې پاکستان ته لېږدوي کار پیل شي. ازبکستان هڅه کوي چې د افغان ترانس وسپنې پټلی لیکه، چې د افغانستان مزارشریف ښار له پېښور سره وصلوي ورغول شي. د کاسا ۱۰۰۰ پروژه، چې د قرغزستان برېښنا د افغانستان له لارې پاکستان ته لېږدوي کار روان دی.

د اقتصادمحوره بهرني سیاست بل اساسي اړخ افغانستان کې د بهرنۍ پانګونې د جلب په موخه د اسانتیاوو برابرول دي. په همدې موخه د ریاست الوزرا د اقتصادي معاونیت تر سیوري لاندې د بهرنۍ پانګونې لپاره د پروسو اسانولو او چټکولو په موخه د پانګونې د جذب بین‌الوزارتي کمېټه کار کوي.

د بهرنۍ پانګونې په برخه کې د لوګر مس عینک کان کې د چینایي پانګوالو له لوري د چارو عملي پیل د بېلګې په توګه یادېدلای شي. همدارز په شمال کې د امودریا نفتي حوزه کې د چینایي شرکت لخوا د تیلو د استخراج پیل چې داسې هیلې یې ټوکولي دي چې زموږ د تېلو ملي اړتیا تر زیاتې برخې خودکفا کړي.

دې ته ورته په نورو برخو کې هم د حکومت سیاست د بهرنۍ پانګونې د جذب لپاره د اسانتیاوو برابرول دي.

## متن سخنرانی محترم مولوی امیر خان متقی، وزیر امور خارجهٔ امارت اسلامی افغانستان

# در "همایش مشورتی عالی رتبه سیاسی فلسطین" در تهران

تهران - ایران ۲۳ دسامبر ۲۰۲۳

الحمد لله رب العالمين والعاقبه للمتقين والصلات والسلام على اشرف الانبياء والمرسلين وعلى آله وآصحابه آجمعين آما بعد:

اعوذ بالله من الشيطن الرجيم

بسم الله الرحمن الرحيم

" سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَىٰ بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ"

صدق الله العلى العظيم

**برادر عزیز حسین امیر عبد اللهیان، وزیر امور خارجه جمهوری اسلامی ایران،**

**وزرای محترم،**

**دانشمندان وفرهیختگان،**

**حضار گرانقدر،**

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

اجازه دهید در قدم نخست از این ابتکار مسؤولانه، به وقت و بجای وزارت امور خارجهٔ جمهوری اسلامی ایران اظهار سپاس و امتنان نمایم که فرصت را در اختیار ما گذاشت تا پیرآمون مهم ترین و دردناک ترین مسألهٔ منطقوی، اسلامی و انسانی بحث هایی داشته باشیم.

**همکاران عزیز،**

ما و شما زمانی گردهم آمده‌ایم که هر لحظه، احتمالاً همین لحظه هم که من سخنرانی دارم، جوان فلسطینی ساکن در غزه مظلومانه به شهادت می رسد، مادری داغدار می‌گردد، و کودکانی بی پدر و مادر می‌شوند!

این دقیقاً هفتاد و هشتمین روزیست که قتل عامِ بی رویه و نسل کشیِ اهل غزه جریان دارد و جهانی که داد از حقوق بشر، ارزش های انسانی و آزادی و عدالت می زند، نظاره گر این قتل عام وحشیانه است.

با این حال، ما در عصر بزرگترین تناقض ها به سر می بریم!

در جهانی که کشورهایی به بهانهٔ نقض جزءی‌ترین حقوق انسانی

و یا هم به دلایل سیاسی اما با به کار گیری بحث حقوق بشری مورد تحریم ها قرار می گیرند....اما در عین زمان نسل کشی بی وقفهٔ یک ملت توسط رژیمی که از تمام حدود و معیارهای انسانی در جنگ



پا فراتر گذاشت مورد کوچکترین ایراد قرار نمی گیرد!

در وجود ده ها کنوانسیونِ پیرآمون حقوق بشر و مسایل انسانی در جریان هفتاد و هشت روز نزدیک به بیست هزار انسان که بیشتر از نصف آن را خانم ها و کودکان تشکیل می دهند نسل کشی گردیدند.... اما همین کنوانسیون ها در عین زمان در موارد دیگر به دلایل سیاسی و ابزاری مورد استفاده قرار می گیرد.

**سرورانِ عزیز!**

با این وضعیت آیا نظم حاکم جهانی کنونی که اساس آن بعد از جنگ جهانی دوم گذاشته شد، با این همه تناقضات پاسخگوی نیازهای انسان قرن بیست و یک است؟!

آیا می شود عقل و خِرَدِ انسانِ قرن بیست و یک را با این همه رفتارهای دوگانه و معیارهای چندگانه به بازی گرفت؟!

من فکر می کنم که وجدان آگاه و بیدار بشری را نمی توان با اینچنین رفتارهای دو گانه قانع ساخت. ما نیاز به نظم نوین جهانی که استوار بر عدالت و برابری باشد داریم. در نظمی که از هیچ حق انسانی و یا هم کشوری چشم‌پوشی صورت نگیرد و امکان استفاده‌جویی‌های سیاسی نداشته باشد.

نظمی که به جهان صلح، عدالت و ثبات به ارمغان بیاورد.

چه بخواهیم یا نخواهیم، بگوییم یا نگوییم....وجدان انسان امروزی را نمی توان با این همه تناقضات خوابیده نگهداشت.

پس از نسل کشیِ فلسطینی‌ها در غزه و آزاد گذاشتن دست رژیم صهیونیستی، این تناقض بزرگ، دیگر به حد کافی روشن گردیده است و با این و ضعیت شکل گیری تغییر در نظم جهانی حتمی است.

خیلی مسخره است وقتی دیده می شود کشور من افغانستان پس از بیشتر از چهار دهه تهاجمات کشورهای بیگانه و جنگ و هرج و مرج، وقتی به سوی امنیت و ثبات گام بر می دارد، با به کار گیری حقوق بشر مورد تحریم ها قرار می گیرد!

انسانِ افغان چگونه می تواند با این معیار دو گانه همسو باشد؟!

امارت اسلامی افغانستان به حیث نظامی که از متن مردم خویش برخواسته و با نصرت الهی و

پایداری و ایستادگی مردمِ مجاهد و قهرمانِ افغانستان توانست اشغال بیست سالهٔ امریکا و ناتو را در افغانستان به پایان برساند، امروزه درد و رنج مسلمان فلسطینی را با دل و جان حس می کند.

ما که سال ها است قربانی تناقضات حاکم بین المللی هستیم، بیشتر از هر ملت دیگر، در درد و رنجِ ملت مسلمان فلسطینی، خود را شریک می دانیم.

مسألهٔ فلسطین تنها به مردم فلسطین خلاصه نمی شود، بلکه قضیهٔ عربی، اسلامی و در نهایت انسانی است....هیچ انسان آزاده و باورمند به عدالت و ارزش های انسانی نمی تواند مظالم رژیم صهیونیستی بر فلسطین را با بی تفاوتی نظّاره گر باشد!

**جلالتمآبان،**

"امارت اسلامی افغانستان به حیث جزءی از امت اسلامی، مظالمِ جاری رژیم صهیونیستی در غزه و فلسطین اشغالی را همواره محکوم کرده است و مبارزهٔ ملت فلسطین را بر اساس نصوص شرعی و حقوق بین الدول، یک امر مشروع و قانونی می داند.

امارت اسلامی افغانستان، به مثابهٔ پاسدار ارزش های اسلامی از کشورهای تأثیرگذار جهانِ اسلام، خواهانِ ایفای نقش مؤثرتری در پایان گذاشتن به کشتار مردم بی گناه فلسطین توسط رژیم صهیونیستی و مسؤول دانستن رژیم صهیونیستی است.

جهان اسلام باید یک پارچه و متحدانه صدای آزادی فلسطین را به روایتِ مطرح مبدل نمایند و تفاوت دیدگاه های سیاسی را در این قضیه راه ندهد. ابتکار امروزی جمهوری اسلامی ایران قابل ستایش است.

اما هنوز هم نیاز است که کشورهای بیشتری در منطقه دست به کار شوند تا بتوانیم جلوی کشتار بی رویه مردم مظلومِ فلسطین گرفته شود. این تلاش ها باید تا زمانی ادامه یابد که مسألهٔ فلسطین به حل دایمی و عادلانه برسد. راه حلی که در نتیجه آن مردم فلسطین دارای دولتی شوند که در سرزمین تاریخی فلسطین به وجود بیاید.

امارت اسلامی افغانستان در محدودهٔ توانایی اش آماده همراهی جهان اسلام در این امر انسانی و اسلامی می باشد.

تشکر از تو جه تان و یک بار دیگر سپاسگذارم از وزارت امور خارجهٔ جمهوری اسلامی ایران بابت فراهم آوری این فرصت.

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

# د تاتارستان په مرکز کازان کې د مسکو فارمت غونډه کې د ا.ا.ا. د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي مولوي امیرخان متقي وینا

کازان، تاتارستان
۲۹ سپتمبر ۲۰۲۳



**بسم الله الرحمن الرحیم**

**حامداً و مصلیاً و بعد،**

له هر څه وړاندې د روسیې فدارسیون له حکومت او تاتار ستان جمهوریت نه مننه کوم چې د دې ناستې تابیا یې ونیوله او د افغانستان اسلامي امارت په استازیتوب یې موږ ته د ګډون بلنه راکړه ترڅو د خپل هېواد په تړاو د وروستیو سیاسي، امنیتي او اقتصادي پرمختګونو په هکله د ناستې ګډونوالو سره هراړخیز بحثونه ولرو.

**درنو حاضرینو،**

دوه کاله وړاندې د ۲۰۲۱م کال د اکتوبر پر ۱۶مه زموږ یوه لوی پلاوي داسې مهال د مسکو فارمټ ناسته کې ګډون وکړ، چې په افغانستان کې د امریکا او ناټو اشغال او پر هغوی تکیه اداره له منځه تللې وو، او د افغانستان اسلامي امارت حکومت تازه کار پیل کړی و. هغه مهال ځینو لوریو سره د راتلونکي حکومت تداری، د حکومتي بنسټونو احیاء خصوصاً د امنیتي سکتور وزارتونو بیا فعالولو، امنیتي وضعیت او مخدره موادو په تړاو ژورې اندېښنې او جدي پوښتنې مطرح وې.

خو موږ د الله تعالی په خاص نصرت، د ولس په ملاتړ، او په خپل ټینګ عزم باور درلود چې د اشغال پای ته رسېدو سره به سم موږ د یوه خپلواک، امن او ښېرازه افغانستان د بنسټ ډبره ږدو، چې الحمدالله دا کار وشو او په تقویت یې کار روان دی.

> تېر دوه کاله موږ د همدې فارمټ او نورو ناستو او فارمتونو په چوکاټ کې سیمې او نړۍ ته د افغانستان امنیتي وضعیت په هکله اطمینان ورکړ او ژمنه مو وکړه چې د

افغانستان اسلامي امارت به د يوه مسؤول حکومت په توګه پرې نږدي چې د افغانستان له خاورې د نړۍ، سیمې او په ځانګړې توګه خپلو ګاونډیو هېوادونو ته ګواښ پېښ شي، چې دا ژمنه په ښه ډول عملي شوې ده.

په تېرو دوو کلونو کې موږ د خپل حکومت سیاسي، امنیتي او اقتصادي بنیادونو رغولو سره هممهاله د اشغالګرو په سیوري کې د روزل شویو فتنه‌ګرو ډلو پرخلاف مبارزه چټکه کړه او وتوانیدلو چې په ټول هیواد کې د داعش پټنځایونه په ډېر مسلکي ډول له منځه یو سو او د افغانستان په شمول د ټولې سیمې د امنیت پرخلاف د یوې سترې دسیسې وروستۍ هڅه هم شنډه کړو.

**درنو حاضرینو،**

په تېره شاوخوا نیمه پېړۍ کې افغانستان له ګڼو سیاسي، امنیتي، اقتصادي، ټولنیز او په ځانګړې توګه د کورني مشروعیت له بحران سره مخ و چې د ګڼو ننګونو لامل شو؛ علمي او عملي تجربو وښوده چې د بحران اصلي ریښه د کورنیو مسئلو په اړه د خارجي نسخو، ماډلونو او فرمایشونو تطبیق وو چې زموږ جغرافیه، تاریخ، فرهنګ، دیني او ټولنیز ارزښتونه په کې له پامه غورځول شوي وو.

زموږ د دې ادعا ښه بېلګه تېره دوه کلنه حکومتولي ده، چې له بندیزونو او د کوم جهت له مرستې او ملاتړ پرته مو جنګ ختم او دایمي امنیت رامنځته کړ، حکومت مو مرکزي کړ، بودیجه مو خپلواکه کړه، له هیواده مو چا ته ګواښ پیښ نه شو، مخدره موادو سره مو مؤثره مبارزه وکړه، په حکومتي او خصوصي سکتور کې مو کاري فرصتونه پراخ کړل، عدالت ته لاسرسی هرې ولسوالۍ او کلي ته وغزیده، تجارت، ټرانزیټ او پانګونې لپاره مو آسانتیاوې رامنځته کړې، د هیواد په بېلابېلو برخو کې مو د بیا رغونې پروژې پیل کړې او د ولس تر محرومې طبقې پورې مو د خدماتو رسولو کې شفافیت تضمین کړ.

دا هر څه په تېرو شلو کلونو کې په اصطلاح همه شمول رژیم د سوونو زرو بهرنیو او کورنیو عسکرو، پرمختللو وسلو، پراخ مالي ملاتړ او د سیمې او غربي هیوادونو سیاسي ملاتړ سره سره هم ترلاسه نه کړل، چې د پاشلتیا اساسي لامل یې د بهرنیو فرمایشونو د منلو په نتیجه کې د ولس په وړاندې د مشروعیت بحران رامنځ ته کېدل او په مقابل کې یې ولس را پاریدل و.

په همدې اساس مو د خپلو خلکو د دین، تاریخ، کلتور او خصوصا نژدې سیاسي واقعیتونو ته په پام کې نیولو سره د یوه دا سې حکومت بنسټ کېښود چې د ښې حکومتدارۍ ترڅنګ د دیني او ملي مشروعیت څخه برخمن وي. هیله من یم چې د سیمې او نړۍ هیوادونه هم پر دې واقعیت د تایید مهر ولګوي ولې په تېرو ۴۵ کلونو کې د نا تعریف شوي همه شمولیت په څېر هیڅ بهرنۍ نسخې د افغانستان ستونزې نه دي حل کړې.

موږ له ټولو هیوادونو، په ځانګړې توګه له خپلو ګاونډیو او د سیمې

له هېوادونو هیله لرو، لکه څنګه چې موږ نورو ته د حکومتدارۍ د بنې په اړه نسخې نه وړاندې کوو، دوی دې هم د افغانستان د حکومتدارۍ د بنې په تړاو د نسخې وړاندې کولو پرځای د افغانستان اسلامي امارت سره په هره برخه کې رسمي کار پیل کړي ترڅو دا ته له یوې خوا د شریرو جهتونو لاسونه پرې شي او له بلې خوا د یورو-آسیا سیمې، چې د نړۍ نږدې اویا سلنه نفوس، اکثره شتمني او د انرژۍ درېیمه برخه سرچینې لري، له ظرفیت څخه د سیمې د ثبات او شېرازۍ لپاره ددې تاریخي فرصت څخه د ټولو په ګټه اعظمي استفاده وشي.

**درنو حاضرینو،**

**په پای کې ځینو مواردو ته غواړم مشخصې اشارې ولرم:**

**لومړی:** اوس چې د افغانستان اشغال پای ته رسېدلی، امنیت راګرځېدلی او یوه قوي سیاسي اراده موجوده ده، نو د دې وخت راغلی چې د افغانستان په محوریت د سیمه‌ییز اتصال پروژې تطبیق شي. موږ د خپل اقتصادمحوره بهرني سیاست پر بنسټ د سیمه‌ییز اتصال لپاره...که هغه د ټرانسپورټ په بڼه او یا د انرژۍ د لېږد په ډول وي، چمتو یو چې ټولې لازمې ا سانتیاوې برابرې کړو. له نوو سیاسي انکشافاتو ورو سته، اوس تر بل هر وخت د «شمال او جنوب سوداګریز دهلیز» عملي کېدو ته شرایط برابر دي. دلته د رو سیې فدراسیون د لومړي وزیر ښاغلي میخائیل میشوستین له هغو څرګندونو ملاتړ کوو چې ویلي و «روسیه چمتو ده چې د افغانستان او جنوبي اسیا په ګډون د یورو-آ سیا په سیمه کې د سوداګریزو مسیرونو پر پراختیا تمرکز ولري». د سیمې د هېوادونو لپاره هم باید همدا مهم وي چې څنګه خپلې ګټې خوندي کړي او له فرصتونو استفاده وکړي.

**دوهم:** افغانستان د اقتصادي همکاریو، سوداګرۍ او سرمایه‌ګذارۍ قوي ظرفیت لري او موږ له هر ډول تبعیض پرته د زیربنایي پروژو، انرژۍ، معادنو، زراعت، مواصلاتي خطوطو او په ځانګړې ډول د اوسپنې پټلۍ چې ټوله سیمه د افغانستان له لارې په لنډه توګه نښلوي، چمتو یو چې لازمې اسانتیاوې برابرې کړو.

**درېیم:** موږ ګاونډیو هېوادونو سره د سرحدي همکاریو په برخه کې د قاچاقبرانو او نورو ورانکارو عناصرو د تګ او راتګ د مخنیوي په برخه کې خپل تیاری بیا تکراروو. د دغو ګواښونو دفع ډله‌ییزو همکاریو ته اړتیا لري. موږ په دې برخه کې مؤثرې هڅې کړې دي او په کوردننه مو د مخدره موادو کښت او قاچاق د صفر کولو په موخه مبارزه کړې ده؛ مګر د قاچاق په برخه کې چې دوو اړخیزو همکاریو ته ضرورت ده، د اړوندو هېوادونو همکاریو ته اړتیا لرو.

**څلورم:** افغانستان د تېرو دوو کلونو په اوږدو کې ګنو هېوادونو سره، په ځانګړې توګه د سیمې له هېوادونو سره د پراخو سیاسي او ډیپلوماتیکو تعاملاتو د پیل شاهد و. په دې اړه د سیمې هېوادونه ډېر مخکښ و، چې مننه یې کوو!

دا د افغانستان او سیمې او نړۍ ترمنځ د ډیپلوماتیکو اړیکو نوی فصل بولو. د بېلګې په توګه د

چین ولسي جمهوریت د افغانستان اسلامي امارت تـه لـه دیپلوماتیکو تشریفاتو سره سم سفیر معرفي کـړ. مـوږ هیلـه‌من یـو چې د چین دا اقدام نورو هېوادونو ته هم ښه مثال شي او زمـوږ سفیران هـم ومنـي ترڅو د دوو اړخیزو ګټو په نظر کې نیولو سره مؤثرې ښکېلتیا ته زمینه برابره کړي.

**پنځم:** افغانستان ته د نړۍ لـه بېلابېلـو هیـوادو سیلانیان، دیپلـو ماتـان، مرستندویان، خبریالان او څېړونکـي پـه ډاډه زړه راځـي او پـه ټـول هیـواد کې ازاد ګرزي. بناء موږ یو ځل بیا اعلان کوو هر څوک چې له افغانستان څخه د امنیت او یا هم مخدره موادو په اړه تشویش لري د مغرضو کړیـو د تبلیغاتو د اوریدو او د همدې غرضي تبلیغاتو پـه استناد او بنیـاد د عکس العمل ښودوو پر ځای دي خپله افغانستان ته راشي، هیئتونه دي راولیږي او هر څه دي له نږدې په خپلو سترګو ووینې تـر څو یـې تشویش رفع او اطمنان حاصل شي.

په پای کې د روسیې فدراسیون د دې ابتکار له امله د مننې ترڅنګ یـو ځـل بیـا ګاونـډیو او د سیمې هېوادونـو بانـدې غـږ کـوم چـې افغانستان د مشترکو مشروعو ګټو پر بنسټ ټولو سره مثبت تعامل ته چمتو دی او هیلـه‌من یـو چې لـه دې فرصت څخه ټول هېوادونـه د خپلو ملي ګټـو پـه پـام کـې نیولـو سره استفاده و کړي.

لـه توجـه مـو مننـه ښـه وختونـه ولرئ.



# د افغانستان اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزارت درې کلن سياسي مزل

**ځانګړی راپور**

په هېواد کې د شل کلن امريکايي اشغال له ټولو کړاونو او ځورونو وروسته په افغان مېړني او مجاهد ولس د الله جل جلاله پيرزوينه وه، چې اسلامي امارت يې بيا په هېواد حاکم او د دې حاکميت سپين بيرغ يې د هېواد پر لوړو او ژورو رپاند کړ. د څښتن تعالی د دې بې ساري نعمت د شکرانې په پار په هېواد کې يو ځل بيا تر همدې سپين محمدي بيرغ لاندې اسلامي نظام په بشپړ قاطعيت او ژمنتيا اعلان شو. يرغلګر امريکايان او لاسپوڅي يې له هېواده تېښتي ته اړ کړل شول او هېوادوال مو له هر ډول ناخوالو او کړکېچنو کړو وړو هوسا او د ټول هېواد په کچه سراسري امنيت رامنځ ته شو.

هو، د ۱۴۰۱ د زمري ۲۴مه (۱۵مه اګست ۲۰۲۱)، هغه ورځ ده، چې د افغانستان او نړۍ د ننني تاريخ ځلانده؛ خو واقعاً هيجانه ورځ ثبت شوه. خلکو او نړيوالو د افغانانو د متين او راسخ عزم او د امارت د سپېڅلي مبارزې رښتونولي عملاً درک کړه او د نظام او افغانانو لپاره دا سرښندنه او مېړانه تر بل هر څه لويه ارزښتمنه لاسته راړونه ده، چې وياړ يې د هر متعهد او پر دين مين افغان په زړه کې د تل لپاره خوندي دی.

هوکې! د زمري په ۲۴مه؛ په هېواد کې د بهرني اشغال تغر ټول، د ظلم او ستم لاسونه غوڅ، د وحشت زولنې ماتې، د قدرت جزيرې ختمې او د جګړې او غچ اخيستنې نادوده فکر په عمومي عفوه محوه شو. د هېواد په ټول قلمرو د خپلواکۍ ځلانده لمر خپلې پلوشې وغوړولې او د افغان متدين ملت نه هېرېدونکو مېړانو او کارنامو د تاريخ په زرينو پاڼو کې د امپراتوريو د ماتې نوی باب اضافه کړ.

لله الحمد؛ اوس مو هېوادوال او مجاهد ولس د واحد اسلامي نظام تر چتر لاندې د سراسري امنيت په غوړېدلې فضاء کې پرته له کومې وېرې او ترهې د هېواد د ګوټ ګوټ ننداره کوي، له خپلو کورنيو سره د ژوند ارامې شېبې په خوښۍ او خوشحالۍ تېروي، ورځ تر بلې د جګړو د ويرونو پر ځای د سياسي، اقتصادي،کلتوري او ټولنيزو پرمختګونو سربېره د هېواد د ابادۍ، سوکالۍ او پر ځان بسياينې خبرونه اورېدل کېږي.

د اسلامي امارت مشرتابه -الله يې دې ساتندوی او مرستندوی شي- په ټول اخلاص، امانت دارۍ او د دې الهي مسووليت په بشپړ درک د هېواد واګې او چارې رهبري کوي، د خپل رعيت او خلکو د هوساينې فکر کوي او د هغوی د نېکمرغۍ، مال او نفس د ساتنې او عزت پالنې خدمت يې د خپلې واکمنۍ اساسي کربښې ټاکلې دي.

نن، د زمري په ۲۴مه، د افغانستان اسلامي امارت واکمني خپل درې کلن مزل پوره کړ، د بهرنيو چارو وزارت له هغې ورځې چې د هېواد د کورني او بهرني سياست د اصولو د ترسيم او له نړۍ سره د مانا درلودونکي تعامل په رامنځته کولو دنده ور وسپارل شوه. د وزارت مشرتابه په ټول متانت او ځراکت وکولای شوای، په تېرو دريو کلونو کې له سيمې او نړۍ سره د پېچلو او اوږدو بحثونو، پرله پسې سفرونو او مهمو ليدو کاتو په ترڅ کې د دې وزارت کاري استقامت او د فعاليتونو څرنګوالی د ملموسې سياسي تګلارې او سياسي ليدلوري څرګند مطرح کړي.

د بهرنيو چارو وياړلي مشرتابه له هغې ورځې، چې د دې وزارت د چارو د مديريت او سرپرستۍ لپاره غوره کړل شو او د وږي په ۱۶مه د افغانستان اسلامي امارت د سرپرستې کابينه له اعلان سره سم يې عملا چارې په لاس کې واخيستې، تر ټولو لومړی يې د وزارت اداري چوکاټ منظم کړ، د بشري ځواک ګومارنې په لړ کې يې د جهادي مبارزې د صف له باتورو مجاهدينو سربېره متدين، ژمن علمي شخصيتونه هم راجلب کړل. په بهر کې د افغانستان له لس ګونو سياسي استازوليو سره اړيکې ټينګې شوې او د بهر مېشتو افغانانو او بهرنيانو لپاره د قونسلي خدمتونو وړاندې کولو لړۍ پيل او په جديت يې کړنې بېرته عادي حالت ته راوګرځول شوې. په هېواد کې يې بهرنيو شته سياسي او ډيپلوماتيکو استازوليو ته د کاري چاپېريال ډاډ ورکړ او د يو لړ بندو استازوليو بېرته پرانيستنې او حضور ته يې عملا کار وکړ او له سيمې او نړۍسره د افغانستان د سياسي تعامل کچه مخ په پياوړتيا او پراختيا شوه.

دا ځانګړی راپور د بهرنيو چارو وزارت د درې کلن سياسي مزل په پار چمتو شوی دی، چې لومړی

برخه يې د وزارت د داخلي چارو له مديريت پيليږي، ورپسې په افغانستان کې د بهرنيو هېوادونو د سياسي استازوليو له همغږۍ سربېره د افغانستان د بهرنيو سياسي استازوليو د کنټرول چارې وړاندې شوې دي. په دوهمه برخه کې افغانستان ته د بهرنيانو په ځانګړې توګه د ديني عالمانو د پلاوو د راتګ او له اسلامي امارت سره يې د خواخوږۍ او ورسره له نيږدې د دوستانه بحثونو معلومات شريکېږي. د راپور دريېمه برخه د بهرنيو چارو د محترم مشرتابه د بهرنيو سفرونو، په هېواد کې له بهرنيو لوړ پوړو چارواکو سره ليده کاته او د اسلامي امارت د سياسي تعامل او له نړۍ سره د افغانستان د مانا دار نښلون په موخه اړوندو دوه اړخيزو او څو اړخيزو ناستو او بحثونو ته ځانګړې شوې ده.

## ۱. د بهرنيو چارو وزارت د چارو څارنه او مديريت

### د ورځنيو کړنو او خدماتي سيستم ښېرتــه فعالول او اداري پرمختګ

په داسې حال کې؛ چې له اشغاله تازه راوتلي د بهرنيو چارو وزارت سياسي، اقتصادي او کلتوري فضاء ډېره بې خونده او له هر راز ابهاماتو او اتهاماتو ډکه وه، د اسلام د سپېڅلي دين د لاربنوونو او د وطن د عليا مصالحو د پالنو په لړ کې د هر اړخيزې او خپلواکې رښتونې تګلارې نه شتون او ورته د نظام د اولويتونو پر بنسټ د دې برخې رغونې او پياوړتيا په تکل کلک هوډ، ستړې کار، څيرک مديريت او اغېزمنې ستراتيژۍ ته اړتيا وه.

د بهرنو چارو وزارت ته مشرتابه او کارې ډله يې په داسې حال کې رانوتله، چې د وزارت ډېرى رييسان له هېواده تښتېدلي وو، اداري سيستم يې په يو نامنظمه بڼه پرېښى او تر ډېره هځه شوې وه، چې نګونکى کارې چاپېريال وړاندې شي؛ خو په لږ وخت کې دا تشه په خورا تدبير او لوړه حوصله د جهادي دور د زړه ورو مجاهدينو له ټاکلو سربېره د هېواد د علمي او اکاډيميکو شخصيتونو په ساتلو او راجلبولو ډکه او ټولې چارې د مرکزي رياستونو په ګډون د هېواد د لويو ښارونو سربېره په نهو سياسي استازوليو کې فعالې او منظمې کړل شوې او د تېر په پرتله يې په ښه توګه خپل کارونه او خدمات پيل کړل.

د ۱.۱.۱ د بهرنيو چارو وزارت د ورځنيو قونسلي چارو او خدمتونو د اسانتيا په لړ کې وتوانېد، چې ولايتي استازولۍ د مرکزي ډېټابېس سره وصل کړي، څو هېوادوال وکولای شي، چې خپل ټول اسناد له مرکز سربېره په ولايتونو کې هم تصديق کړي. له دې سربېره د قونسلي خدمتونو ځانګړې خدمت هم رامنځ ته شو، چې له مخې يې هر څوک کولای شي د ورځو اوږده انتظار په ځای د دوو يا دريو ساعتونو په ترڅ کې خپل اسناد تصديق او خلاص کړي.

له هېواده بهر د افغانستان په اړوندو استازوليو کې د بېلابېلو خدمتونو اسانتياوې رامنځ ته شوې، هلته په اړوندو هېوادونو کې مېشت هېوادوال د قونسلي خدمتونو له اسانتياوو او د پېژند پاڼو او پاسپورټونو له وېشه په عادي توګه برخمن دي.

## د هېواد د ننه د سیاسي استازولیو بیا فعالېدل او په بهر کې د افغانستان د استازولیو د اړیکو پیاوړتیا

د افغانستان د سیاسي استازولیو د چارو او کړنو د مدیریت او اداره کولو په لړ کې اوسمهال د افغانستان اسلامي امارت په ازبکستان، ترکمنستان، قزاقستان، قرغزستان، اذربایجان، تاجکستان، روسیه، چین، ترکیه، متحده عربي امارات، قطر، سعودي عربستان، مصر، عمان، اردن، عراق، کویټ، پاکستان، ایران، هند، بنګله دیش، اندونیزیا، مالیزیا، بلغاریا، چېک، هالنډ او هسپانیه په هېوادونو کې د خپلو استازلیو سره تعامل لري او خپلو هېوادوالو او بهرنیانو ته د همدې استازولیو له لارې ډیپلوماټیک او قونسلي خدمتونه وړاندې کېږي.

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت په لنډه موده کې وکولای شي، له څو لیسزو جګړو راوتلی افغانستان، د سیاست په دروازه، د امن په جونګړه، د تجارت په پلازمېنه او د سیمې د خپلمنځي رقابت پر ځای د سیمې د پرمختګ پر ډګر بدل کړي! دې موخې ته د رسېدو په تکل یې د ګاونډیانو په ګډون، د سیمې او نړۍ هېوادونو ته د اسلام اصله، متوازن او اقتصاد محوره سیاست په رڼا کې د تعامل غیرږ پرانېسته.

په کور دننه د سیاسي استازولیو او ډیپلوماټیکو غړو لپاره د ډاډمن چاپېریال او کاري اسانتیا رامنځته کول، د اړوند چارو او کړنو ښه انسجام او د سفارتونو سره دوامداري اړیکې پالنه، هغه چاره وه، چې له هېوادونو سره تر پرله پسې اوږدو او پېچلو بحثونو وروسته د هغوی د قناعت او د واقعیتونو د درک په پایله کې ځینو یې خپل حضور ته پیاوړتیا ورکړه او یو شمېر تللو یې بېرته خپل شتون او فعالیت بیا ځلي وښود او ځینې نورې یې د ژمنو تر بریده راغلې دي، چې په نیږدې راتلونکي کې به خپل ډیپلوماټیک تعامل او له افغانستان سره راکړه ورکړه بېرته پیل کړي.

د افغانستان اسلامي امارت د حاکمیت په لومړي کال په کابل کې د چین، روسیې، ازبکستان، عربي متحده اماراتو، هند او اروپايي ټولنې سفارتونه یو په بل پسې بېرته پرانیستل شول. روسیه، چین، ازبکستان، ایران او پاکستان بیا هغه هېوادونه وو، چې د اسلامي امارت استازي یې په همدې لومړي کال په خپلو هېوادونو کې د افغانستان سفارتونو ته ومنل او د افغانستان استازولۍ یې د اسلامي امارت ډیپلوماټانو ته په واک کې ورکړې.

د سفارتونو د پرانیستیا او لوړ ډیپلوماټیک تعامل په لړ کې، چین لومړی هغه هېواد و، چې په کابل کې یې خپل سفارت ته، رسمي سفیر ښاغلی ژاو شینګ راولېږ او خپل باور لیک یې په ۲۲ سنبله ۱۴۰۲- ۲۳ سپټمبر ۲۰۲۳ نېټه، د ا.ا.ا رئیس الوزراء الحاج ملا محمد حسن اخوند ته وړاندې کړ او رسما ومنل شو.

د چین سربېره د نورو بهرنیو هېوادونو سیاسي او ډیپلوماټیکه لېوالتیا هم له افغانستان سره د سیاسي تعامل هغه ګام وو، چې د تېرو دریو کلونو په لړ کې تر دې دمه شاوخوا ۲۶ سفارتونه او قونسلګرۍ بېرته پرانیستل شوې تر شاوخوا ۲۲هېوادونو خپل

نااستوګن سفیران د افغانستان لپاره ونومول، ان د مرکزي امریکا هېواد نیکاراګوا هم د افغانستان لپاره خپل نااستوګن سفیر نوماند او د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت له منلو سره سم په چین کې د ۱.۱.۱. سفارت ته ورسره د همکارۍ او همغږۍ لارښوونې وشوې.

په بهر کې د افغانستان د استازولیو د مدیریت او کنټرول او د اسلامي امارت د ډیپلوماټانو د منبت په لړ کې هم چین لومړی هغه هېواد و، چې د ۱.۱.۱ رسمي سفیر ښاغلی مولوي اسدالله ( بلال کریمي) یې په بیجینګ کې د افغانستان سفارت ته د رسمي سفیر په حیث ومنه او باور لیک یې د چین ولسمشر ښاغلي شي جینپینګ ته د ۴۱ نورو هېوادونو د سفیرانو د منلو د مراسمو په ترڅ کې په ۱۰ دلو ۱۴۰۳نېټه، رسما وړاندې او د هغه له لوري ومنل شو.

دا مهال په افغانستان کې د ازبکستان، ترکمنستان، قزاقستان، قرغزستان، اذربایجان، تاجکستان، روسیه، چین، ترکیه، متحده عربي امارت، قطر، سعودي عربستان، مصر، پاکستان، ایران، هند، اندونیزیا او ایټالیا هېوادونه سفارتونه او ځینې یې د افغانستان د کندهار، هرات، مزار شریف او ننګرهار په ښارونو کې پرانیستې قونسلګرۍ هم لري. د ملګرو ملتونو د ډېرو سازمانونو سربېره د اروپایي اتحادیې، اسلامي همکاریو سازمان او نورو نړیوالو ادارو او سازمانونو خپل دفترونه پرانیستي او خپل چارې عادي په مخ بیایي.

## ۲. د افغانستان د اسلامي نظام د پیاوړي پېژندنې په موخه هېواد ته د اسلامي نړۍ د علماوو راتګ

په افغانستان د اسلامي امارت حاکمیت او د اسلامي نظام اعلان د اسلامي نړۍ او ځینو هېوادونو د اسلامي سازمانونو او دیني علماوو پاملرنه راجلب کړه او په دې لړ کې له بېلابېلو هېوادونو څخه د رسمي او نا دولتي اسلامي سازمانونو او ټولنو مشران او پلاوي له اسلامي امارت څخه د رښتوني درک په لړ کې افغانستان ته سفرونه وکړل او د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت په دې برخه کې د هغوی د هرکلي او راتللو په لړ کې عاجل او فوق العاده اسانتیاوې رامنځ ته کړې او د دوی هر کلی یې وکړ.

د ترکیې، قطر، متحده عربي اماراتو، پاکستان سربېره د بریتانیا او له ځینو نورو هېوادونو دیني علماوو سفرونه وکړل، د اسلامي امارت له مشرانو او چارواکو سره یې لیدنه او دوستانه مجلسونه وشول او د هېواد بېلابېل ښارونه او سیمې یې له نیږدې ولیدلې، چې په دې سره په هېواد کې د اسلامي نظام اړوند د هغوی د تفکر او برداشت انګېرنه سملاسي بدله او د نړۍ په کچه یې د خواله رسنیو او نړیوالو تلویزیونونو څخه د اسلامي امارت ملاتړ او تایید وکړ، لیکنې او کتابونه یې ولیکل او خپاره کړل او په دې اړه یې اوږده تلویزیوني بحثونه هم د مجازي نړۍ پر مټ خپاره کړل. افغانستان ته د همدې اړیکو پاللو په لړ کې یو شمېر پېژندل شوو

علماوو او مهمو شخصیتونو په لاندې توګه سفرونه تر سره کړي دي:

- کابل ته د پېژندل شوي عالم او اکاډمیک شخصیت شیخ محمد تقي عثماني په مشرۍ د پاکستان د یو شمېر دیني عالمانو راتګ، ۴ زمرى ۱۴۰۱.
- کابل ته د ترکیې د دیني علماوو د یو پلاوي راتګ، ۳ لړم ۱۴۰۱.
- کابل ته د جمعیت علماء اسلام مشر ـ ښاغلي مولانا فضل الرحمن او ورسره مل د علماوو پلاوي راتګ، ۱۸ مرغومی ۱۴۰۲.
- کابل ته د مجمع الفقه الاسلامي نړیوالي علمي ټولنې مشر ـ د اسلامي همکاریو د سازمان مرستیال دکتور طارق بخیت او ورسره د بېلا بېلو هېوادو د علماوو راتګ، ۱۲ اکتوبر ۲۰۲۲.
- د افغانستان لپاره د اسلامي همکاریو د سازمان استازي دکتور محمد سعید آل عیاش راتګ، ۲۱ جنوري ۲۰۲۳.
- د اسلامي همکاریو سازمان مرستیال دکتور طارق بخیت په مشرۍ د سعودي عربستان، ترکیې، پاکستان، عربي متحده اماراتو، بحرین، اردن، مالیزیا، اندونیزیا، چاد، ګینیا او د اسلامي نړۍ د نورو هیوادونو مخورو او مشهورو علماوو راتګ، ۳ سپتمبر ۲۰۲۳.
- کابل ته د مسلمانو علماوو د نړیوالي اتحادیې مشر دکتور علي قره داغي په مشرۍ د رسمي پلاوي راتګ، ۲۰ دیسمبر ۲۰۲۳.
- افغانستان ته د برتانیې څخه د دیني علماوو د پلاوي راتګ، ۲۹ جولای ۲۰۲۳.
- افغانستان ته د اسلامي همکاریو د سازمان مرستیال او د افغانستان له پاره یې د ځانګړي استازي، ښاغلي دوکتور طارق علي بخیت په مشرۍ د دیني علماوو د پلاوي دوهم ځلي راتګ، ۱۴ دیسمبر ۲۰۲۳.
- د اندونیزیا د جوماتو د شورا رییس او د ولسمشر پخواني مرستیال او ملا پلاوي سفر،

## ۳. پیشرفت تعامل سیاسی با افغانستان و نشست‌های منطقه‌یی و بین‌المللی

طی سه سال گذشته، مقامات عالی‌رتبۀ کشورهای مختلف جهت تقویت تعامل سیاسی و روابط اقتصادی و فرهنگی با افغانستان به کشور سفر نموده اند، به‌ویژه سفرهای نخست‌وزیران و وزرای خارجه به همین منظور انجام شده اند که طی آن در رابطه به تعامل دوجانبۀ سیاسی، اقتصادی و فرهنگی با وزارت امور خارجه بحث صورت گرفته و در نتیجۀ گفت‌وگوها، این روابط در حال تقویت‌یافتن و پیشرفت اند. درین زمینه، ضمن مقامات عالی‌رتبۀ کشورهای همسایه، سفرهای مقامات کشورهای منطقه و جهان نیز انجام یافته است.

افزون برین، به سلسلۀ تعامل سازندۀ سیاسی با افغانستان، نشست‌های چندجانبه و پلتفورم‌های بحث به سطح منطقه و جهان در داخل و خارج کشور ایجاد شده اند که بحث‌هایی در رابطه به

موضوعات مهم مطرح نموده و راه‌حل ها ارائه نموده است.

### سفرهای خارجی مهم وزیر امور خارجه امارت اسلامی افغانستان

- سفر مولوی امیرخان متقی به ایران برای گفتگوی دوجانبه، ۱۹ جدی ۱۴۰۰

هیئت امارت اسلامی افغانستان به رهبری مولوی امیرخان متقی به دعوت جمهوری اسلامی ایران به تهران سفر نمود و در این دیدار پیرامون روابط دوجانبه اقتصادمحور سیاسی، تجارت، مواد نفتی، ترانزیت و مسائل امنیتی گفتگو شد. دو طرف افغانستان را مسیر اتصال آسیای مرکزی و جنوبی خواندند که از طریق آن هر دو کشور می‌توانند در جهت صادرات و ترانزیت بهره ببرند.

- سفر وزیر امور خارجه ا.ا.ا به ترکمنستان جهت گفتگو در مورد روابط دوجانبه، ۲۴ جدی ۱۴۰۰

هیأت عالی‌رتبه‌ای به رهبری وزیر امور خارجه به دعوت ترکمنستان به عشق‌آباد سفر کرد و با معاون نخست‌وزیر، آقای رشید مرادوف وزیر خارجه و سایر مسئولین آن کشور ملاقات نمود. در این نشست روی روابط دوجانبه سیاسی، اقتصادی، همکاری‌های امنیتی، آغاز پروژه‌های تاپی و تاپ، رشد تجارت و فعالیت سکتور خصوصی، افزایش صادرات و به‌ویژه تکمیل پروژه‌های خط آهن و سرمایه‌گذاری روی برق بادی بحث گردید و مورد نظر دو طرف قرار گرفت. همچنان توافق صورت گرفت تا از افغانستان به‌عنوان مسیر ترانزیت میان آسیای مرکزی و جنوبی استفاده شود و برای محصلین افغان در بخش‌های نفت و گاز، خط‌آهن و سایر بخش‌های تخنیکی، بورسیه‌های تحصیلی اعطا گردد.

- سفر مولوی امیرخان متقی به دوحه جهت گفتگو با سفیران کشورهای اروپایی، ۲۸ دلو ۱۴۰۰

هیئت امارت اسلامی افغانستان به رهبری مولوی امیرخان متقی در سفر به دوحه با ۱۶ سفیر و نمایندگان کشورها برای افغانستان دیدار و روی موضوعات امنیتی، بشری، اقتصادی، سیاسی و صحی بحث نمود. همه طرف‌ها پیشرفت در وضعیت امنیتی را ستودند و بر کمک‌های بشردوستانه و صحی با افغانستان تاکید نمودند. هیئت امارت اسلامی نیز از تمامی کشورها خواست تا سفارت‌های‌شان را در کابل باز نمایند و فصل جدیدی از روابط مثبت آغاز شود.

- سفر مولوی امیرخان متقی به قرغیزستان جهت گفتگو دوجانبه، ۲۲ حوت ۱۴۰۰

مولوی امیرخان متقی و هیئت همراه در سفر به قرغیزستان با ارسلان کازابایف وزیر خارجه این کشور دیدار نمودند. در این نشست در مورد روابط دوجانبه سیاسی، اقتصادی و تجارتی گفتگو گردید و تاکید شد که باید از امنیت و استقرار سیاسی کنونی افغانستان در جهت گسترش تجارت آسیای مرکزی و جنوبی استفاده شود و کشورها و ملتهای منطقه از طریق افغانستان به یکدیگر وصل شوند. همچنین دو طرف بر

تقویت بیشتر روابط دیپلوماتیک و تجارت دوجانبه تاکید نمودند.

- سفر هیئت بلندرتبه افغانستان به ریاست امیرخان متقی به قطر، ۲ ثور ۱۴۰۱

در جریان این سفر هیئت بلندرتبه افغانستان به ریاست امیرخان متقی با شیخ محمد بن عبدالرحمن آل ثانی معاون نخست‌وزیر و وزیر امور خارجه قطر دیدار نمود. در این نشست در مورد مسائل سیاسی، اقتصادی و موضوعات مربوط به توافقنامه مدیریت میدان‌های هوایی افغانستان بحث گردید. همچنین در مورد طرح همکاری تیم‌های تخنیکی افغانستان، قطر و ترکیه جهت فعال‌سازی میدان‌های هوایی نیز صحبت شد.

همچنین وزیران امور خارجه و اطلاعات و فرهنگ امارت اسلامی با وزیر خانواده و امور اجتماعی قطر ملاقات نمودند. در این ملاقات خانم مریم المسند حوزه کاری خود را ارائه خدمات به یتیمان، زنان و معلولان و سازماندگی موسسات خیریه معرفی نمود.

مولوی امیرخان متقی از موصوف دعوت نمود تا برای مشاهده وضعیت زنان، یتیمان و معلولان به افغانستان سفر نموده و به نیازمندان کمک نمایند. در پایان روی سفر یک هیئت قطری به افغانستان و زمینه‌سازی برای افتتاح دفاتر موسسات خیریه قطر در افغانستان توافق گردید.

- سفر وزیر امور خارجه ا.ا.ا به دوحه جهت دیدار و مذاکره با هیئت امریکا، ۷ سرطان ۱۴۰۱

هیأت عالی‌رتبه‌ای به ریاست مولوی امیرخان متقی وزیر امور خارجه نشستی دوروزه با آقای تام وست، نماینده ویژه امریکا و هیأت همراهش که شامل نمایندگان بلندرتبه کاخ سفید، وزارت خزائن، اداره توسعه بین‌المللی امریکا و سایر ادارات بود، در دوحه، پایتخت قطر برگزار نمود.

- سفر مولوی امیرخان متقی به اسلام آباد جهت اشتراک در ششمین نشست وزرای خارجه افغانستان، پاکستان و چین، ۱۵ ثور ۱۴۰۲

وزیر امور خارجه امارت اسلامی در این سفر در ششمین نشست سه‌جانبه وزرای خارجه افغانستان، پاکستان و چین اشتراک نمود. در این نشست در مورد روابط سیاسی-اقتصادی و بازرگانی افغانستان-پاکستان و چین، ثبات و ترانزیت منطقه ای بحث و گفتگوی همه‌جانبه شد.

در جریان سفر وزیران خارجه افغانستان و پاکستان و هیئت همراه نیز نشست دوجانبه نمودند. در این دیدار در مورد روابط سیاسی-اقتصادی، تجاری، ترانزیتی افغانستان و پاکستان و ایجاد تسهیلات لازم در این زمینه‌ها بحث و تبادل نظر شد. همچنین درخصوص تردد آسان مهاجران و تجار افغان در پاکستان بحث‌های موثری صورت گرفت.

همچنین وزرای خارجه امارت اسلامی و جمهوری خلق چین دیدار نمودند و روی مسایل مهم دوجانبه سیاسی، تجاری، اقتصادی و ترانزیتی صحبت نمودند.

در این سفر وزرای امور خارجه و تجارت امارت اسلامی با یک تعداد از سران احزاب سیاسی پاکستان در اسلام آباد دیدار نمودند. در این نشست روی مشترکات دوجانبه و مسایل سیاسی، تجاری، ترانزیتی و اقتصادی صحبت شد. همچنین دو جانب روی نزدیک شدن روابط حکومت‌ها و ملت‌های همسایه و ایجاد زمینه رفت و آمد آزادانه مردم دو کشور تاکید کردند.

- سفر وزیر امور خارجه ا.ا.ا به قطر جهت گفتگو با مقامات قطری و نمایندگان امریکایی، ۸ اسد ۱۴۰۲

هیأت امارت اسلامی افغانستان به ریاست مولوی امیرخان متقی که نمایندگان وزارت مالیه و د افغانستان بانک وی را همراهی کردند، با تام وست، نماینده ویژه امریکا برای افغانستان و هیأت همراه وی از ادارات مختلف، به سطح کمیته‌های اجتماعی و مختلف تخنیکی گفت‌وگو نمودند.

در این نشست روی اعتمادسازی میان دوطرف، حذف فهرست‌های سیاه و برداشتن تحریم‌ها، آزادسازی ذخایر د افغانستان بانک، حفظ ثبات اقتصادی افغانستان، مبارزه با مواد مخدر و موضوعات حقوق بشری گفت‌وگو صورت گرفت. دو طرف روی تداوم چنین نشست‌ها، تفاهم و تعامل تأکید نمودند.

وزیر امور خارجه ا.ا.ا در این سفر با نمایندگان ویژه امریکا، بریتانیا، هسپانیا، کوریای جنوبی، هالند، ایتالیا، استرالیا و کانادا نیز ملاقات نمود. مولوی امیرخان متقی در مورد پیشرفت‌ها و دستاوردهای امارت اسلامی در بخش‌های مختلف معلومات داد و بر حضور نمایندگی‌های کشورها در افغانستان تاکید نمود.

وزیر امور خارجه با وزیر دولت قطر برای همکاری‌های بین‌المللی خانم لولوه الخاطر نیز ملاقات داشت. مولوی متقی وی را تشویق نمود تا در قسمت تداوی کودکان مبتلا به سوراخ قلب، تخم‌های اصلاح‌شده در بخش زراعت، آموزش دیپلومات‌ها و ورزشکاران و اعمار میدان‌های بازی در افغانستان کمک کنند. خانم الخاطر نیز به کمک در عرصه‌های یادشده تعهد سپرد.

- سفر مولوی امیرخان متقی به ترکیه جهت گفتگو در مورد روابط دوجانبه، ۸ عقرب ۱۴۰۲

در این سفر مولوی امیرخان متقی با همتای ترک‌اش، آقای هاکان فیدان در انقره ملاقات نمود. در این دیدار دوطرف در مورد روابط دوجانبه و ارتقای سطح روابط دیپلوماتیک، دهلیزهای جدید تجاری و موضوعات منطقه‌یی صحبت همه‌جانبه کردند. وزیر امور خارجه ا.ا.ا پذیرش دیپلومات‌های جدید افغان در انقره و استانبول را پیشرفتی خوب در روابط دوجانبه خواند. وزیر خارجه ترکیه تاکید نمود که نباید هیچ مخالفت مسلحانه در افغانستان وجود داشته باشد و برای همکاری در راستای ارتقای ظرفیت با افغانستان ابراز آمادگی کرد.

در جریان سفر مولوی امیرخان متقی از بنیاد معارف ترکیه نیز دیدار نمود و تأکید صورت

گرفت که واقعیت‌های افغانستان باید به‌شکل اصلی آن به ملت ترکیه رسانیده شود.

- سفر مولوی امیرخان متقی به ایران جهت اشتراک در کنفرانس "همایش مشورتی عالی رتبه سیاسی فلسطین"، ۱۳ جدی ۱۴۰۲

در حاشیه کنفرانس فلسطین وزیر امور خارجه با همتای ایرانی خود دیدار نمود. مولوی امیرخان متقی از اقدامات مؤثر به منظور تقویت بیشتر روابط دوجانبه میان افغانستان و ایران یادآوری نمود. وی همچنین در مورد حل مشکلات محبوسین افغان در ایران صحبت مفصل کرد. آقای امیرعبداللهیان موقف مثبت امارت اسلامی در قبال قضیه فلسطین در کنفرانس فلسطین را ستود و در مورد حل مشکلات محبوسین افغان قول همکاری دارد.

مولوی امیرخان متقی و هیأت همراهش در جریان سفر به ایران، با آقای نظری والی ولایت خراسان رضوی نیز ملاقات نمود. در این نشست در مورد پیشرفت و بازاریابی در بخش‌های تجاری، ترانزیتی، راه‌آهن و زراعت میان افغانستان و ایران بحث و گفتگو شد. وزیر امور خارجه ا.ا.ا برای همکاری و رفتار مناسب با مهاجرین و تجار افغان مقیم مشهد ابراز امیدواری کرد. در این دیدار در مورد ارتقای سطح و حفظ توازن صادرات و واردات دوجانبه، ایجاد تسهیلات بیشتر گمرکی و توجه جدی به خواسته‌ها و مشکلات تجار وعده سپرده شد.

- سفر وزیر امور خارجه ا.ا.ا به ترکمنستان جهت گفتگو در مورد مسایل دوجانبه، ۸ حوت ۱۴۰۲

هیئت امارت اسلامی به رهبری مولوی امیرخان متقی و به همراهی مسئولین وزارت معادن، اداره خط آهن و شرکت برشنا در سفر به عشق‌آباد با آقای محمدخان چکی‌ییف، معاون شورای وزیران در امور ترانسپورت ترکمنستان نیز ملاقات نمود. در این نشست در ارتباط به افزایش انتقالات میان افغانستان و ترکمنستان، ارتقای ظرفیت خط آهن بندر تورغندی و ایجاد تسهیلات بیشتر برای تجار افغان صحبت همه‌جانبه صورت گرفت. وزیر امور خارجه بر احیای راه لاجورد تاکید نمود و اتصال منطقه‌ای با محوریت افغانستان را از اهداف اساسی سیاست خارجی اقتصادمحور امارت اسلامی دانست.

آقای چکی‌ییف نیز راه لاجورد را بسیار مهم خواند و روی برگزاری نشست کشورهای پنج‌گانه مسیر این راه تاکید نمود. وی همچنین یادآور شد کشورش آماده است پس از به دست آوردن معلومات تخنیکی و توافق، روی استیشن خط آهن تورغندی سرمایه‌گذاری کند.

وزیر امور خارجه با رهبر ملی ترکمنستان نیز دیدار نمود و در مورد امنیت، ثبات و فرصت‌های جدید برای سرمایه‌گذاری و ترانزیت در افغانستان برای رهبر ملی ترکمنستان معلومات ارائه کرد. آقای قربانقلی بردی محمدوف، از توجه به انتقال گاز و برق به افغانستان و تلاش برای گسترش خط آهن گفت و وعده سپرد که در بخش‌های مختلف

تجارت با افغانستان تسهیلات ایجاد خواهد کرد. وزیر امور خارجه در جریان این سفر از سفارت افغانستان در عشق‌آباد نیز دیدن نمود.

- سفر مولوی امیرخان متقی در ترکیب هیئت امارت اسلامی به ایران، ۲ جوزای ۱۴۰۳

مولوی امیرخان متقی وزیر امور خارجه در ترکیب هیأت عالی‌رتبه ا.ا.ا در مراسم تدفین و فاتحه سید ابراهیم رئیسی رئیس جمهور فقید ایران و حسین امیرعبداللهیان، وزیر خارجه فقید آن کشور اشتراک نمودند.

در جریان این سفر مولوی امیرخان متقی و هیأت عالی‌رتبه ا.ا.ا با شیخ تمیم بن حمد آل‌ثانی امیر قطر و محمد بن عبدالرحمن آل‌ثانی نخست‌وزیر و وزیر خارجه آن‌کشور در تهران ملاقات نمودند.

## دیدارهای هیئت‌های بلندرتبه خارجی با رهبری وزارت امور خارجه امارت اسلامی

- دیدار مولوی امیرخان متقی با هیأت ازبیکستان به رهبری وزیر ترانسپورت آن کشور، ۲۸ قوس ۱۴۰۰

در این نشست پیرامون روابط دوجانبه صحبت شد. هیأت ازبیکستان از آغاز کار خط آهن ازبیکستان-افغانستان-پاکستان در بهار سال آینده و ارائه آموزش‌های مربوط به خط آهن به افغان‌ها اطمینان داد. وزیر امور خارجه امارت اسلامی نیز در مسائل مربوط به روابط دوجانبه به هیأت یادشده وعده همکاری کامل سپرد.

- ملاقات وزیر تجارت قزاقستان با وزیر امور خارجه امارت اسلامی افغانستان، ۵ جدی ۱۴۰۰

مولوی امیرخان متقی از اتصال قزاقستان با آسیای جنوبی از طریق افغانستان اطمینان داد و خواستار اهدای بورسیه‌های تحصیلی قزاقستان در بخش تخنیکی و سایر رشته‌ها برای محصلین افغان گردید.

قوي او لوی کورني کرنيز بازارونه به د بزگرانو د عايد د زياتوالي لامل شي. دا به د توليد کچه او وده لوړه کړي او کورنيو زراعتي پروسس صنعتونو ته به دا وړتيا وربښي، چې خام مواد په پراخه کچـه او ارزانه بيه واخلي او هم به له اقتصادي دوران سره مرسته وکړي او د اقتصاد څرخ به مثبت لوري حرکت وکړي. د بېلگې په ډول که يو کروندگر پـه خپله ځمکه کې منې کري؛ نو د منې د روزلو لپاره د جسماني کار تـر څنگ کيمياوی يا حيواني سرې تـه اړتيا ده. کـه کيمياوي سره او يا حيواني سره په هېواد کې دننه توليديږي؛ نو د هغې لپاره خلکو ته اړتيا ده چې کار وکړي. خلک چې کار وکړي، معاش تـر لاسه کوي او د خپل ژوند اړتياوې لکه خواړه او پوښاک پـرې پوره کوي. دا د پيسو لگښت بېرتـه اقتصادي دوران تـه داخليږي. لـه بلـه پلـوه کلـه چې کروندگر د منو حاصل تر لاسه کړي؛ نو منې به بازار ته وړي او هلتـه يې په خلکو او د منو د پروسس پـه فابريکو پلوري. پـه دې دوام پـه بازار کې کروندگر، دويم درجه  پلورونکي، بـازار چلوونکي، پنـډيان او نور اشخاص پيسې او گټه تر لاسه کوي، چې بيا هم اقتصادي دوران ته داخليږي. همداراز دا پروسه کروندگر دې تـه هڅـوي، چـې د لـوړ کيفيت پيداوار رامنځته کړي. دلته که حکومت مارکيټ بهرنيو پانگـه والو او رقيبانو ته ازاد پرېږدي؛ نـو کـورنی مارکيـټ بـه لـه مينځـه ولاړ شي. له همدې امله د کورني دوراني پيـداکوونکي اقتصـاد د ملاتـړ او پرمختگ لپاره اړينه ده؛ چې حکومت کورنی اقتصاد د بهرني ازاد بازار له يرغل څخه وژغوري.

د اقتصـــاد محـــوره سياســـت، توليـــدي دوراني اقتصـــاد او اقتصادي پرمختگ بلـه اساسي برخه د انـرژي شـتون او د هغـې کـارول دي. د انــرژۍ د يــوې سالمې پاليسـۍ پـه لرلـو سره بـه حکومـت وکـولای شي، داسـې رغنــده کــړنلارې او روشــونه رامنځته کړي، چې له اقتصادي پلوه به ممکن وي او د اقتصادي پرمختگ لپاره بـه مهـم او گټـور ليدلوری رامنځته کـړي. لـه ټولو شته زيرمـو څخـه د برېښـنا پـه لاس راوړل  تر ټولو مهمه چاره ده، چـــې د افغانســـتان پـــه اقتصادي پرمختيا او پراختيا ډېره اغېزه کـولای شي. د اقتصـادي ثبات او پرمختگ لپاره ډاډمنه او ارزانه برېښـنا بنسـتيزه سـتن ده. حکومت نه يواځې دا چـې، شـته برېښـنايي بندونـه تـرميم کـړي، بلکې ترڅنگ يې اړينـه ده، چې د هېواد په هر سيند نوي لـوی او واړه بندونه هم جوړ کړي.

ښوونه او روزنه د ټولنې د عمومي پرمختگ او په ځانگړې توگـه د اقتصـادي پرمختـگ لـومړنی او اړيـن عامل دی. هـېڅ هـېواد د

ښوونې او روزنې په برخه کې له پانګونې پرته، هېڅکله هم اقتصادي پرمختګ نه شي کولای. ټولې زده‌کړې او په ځانګړې توګه عصري او مسلکې زده کړې د یو هېواد وګړو ته دا وړتیا ورکوي، چې لومړی د خپل ځان او بیا  د نړۍ په اړه ښه پوهه ولري. همدارز ښوونه او روزنه خلکو ته وړتیا ورکوي چې دوی د خپل ځان او ټولنې د ژوند کیفیت لوړ کړي او په پراخه توګه ټولنیزې ګټې رامنځته کړي. همدا مسلکي پوهه ده؛ چې د تولید وړتیا او خلاقیت زیاتوي، ننګونو ته د حل لارې مومي، نوي تشبثات رامنځته کوي، ټیکنالوژیک پرمختګ ته وده ورکوي او هم اقتصادي او ټولنیز پرمختګ خوندي کوي.

اقتصادي پرمختګ د افرادو او ټولنې په اقتصادي او ټولنیزو وړتیاو کې بدلون راولي او دوی ته دا توانایي او وړتیا وربښي، چې پرمختللی او سوکاله ژوند غوره کړي، لومړنیو ټولنیزو اړتیاوو او توکو ته اسانه لاس رسی ولري او هم په خپل شخصيـ او اقتصادي ژوند کې ارزښتناکه بدلونونه او نوښتونه رامنځته کړي. په یوه ټولنه کې خلک هغه مهال د پرمختګ بنسټ جوړولای شي، چې دوی په لاس کې شته معلومات وپیژني، د ټولنې د نورو وګړو سره یې شریک کړي او د ټولنې او ژوند برخه یې وګرځوي. د دې ټولو اصولو او اساساتو پېژندنه د اقتصادي سکټور سره مرسته کوي، ترڅو هغه پرمختګ ترلاسه کړي، چې کوم یې پلان او موخه وي. د دې پروسو تحقق، سیستماتیک اهداف، او پرمختیا یو ساده کار نه دی، بلکې دا اړتیا رامنځته کیږي، چې حکومت رسمي او غیر رسمي بنسټونه وپېژني او مشخص یې کړي، چې اقتصادي سرچینې او وړتیاوې څنګه تقسیم او اداره شي.  جورګ فوسټ وایي "دولتونه د ځاني ګټو د لوبغاړو او ساتونکو په توګه کولای شي دا پریکړه وکړي، چې دوی د محدودو سرچینو کومه برخه او څومره برخه د ټولنې لپاره د عامه خدمتونو په برخه کې په کار وړي."[1]

په افغانستان کې اقتصادي پرمختیا د نورو هېوادونو په څېر بنیادي او اساسي بدلونونو ته اړتیا لري. د دې پروسې په پیل کې دودیز کرنیز اقتصاد ته اړتیا ده. په ورته وخت کې باید پلانونه جوړ شي، چې دودیز کرنیز اقتصاد په عصري صنعتي اقتصاد بدل شي او په مقابل کې یې حکومت باید د دې وړتیا ولري، چې په دې لړ کې له بهرنیو تهدیدونو څخه محافظت رامنځته کړي، چې دا به د سوداګریز چاپېریال په خوندي کولو کې مرسته وکړي او بېلابېل اقتصادي او ټولنیز فعالین به پکښې په ازاده توګه حرکت وکړي او یو له بل سره به ګډ کار وکړي.

[1] Faust, Jörg, "Policy Experiments, Democratic Ownership and Development Assistance," *Development Policy Review, Vol. 28, No. 5,* 2010 , *p.* 518

د ازاد بازار هغه تګلاره، چې تنظیمي چوکاټ، ارتباطي جوړښت او نظارت پکښې شتون ونه لري، د اقتصادي سکتورونو د پراختیا سره مرسته نشي کولای. سربېره پر دې، اقتصادي پرمختګ نه شي کولای، چې په تشه خلا کې کار وکړي او پرمختګ رامنځته کړي؛ ځکه اقتصادي پرمختګ تعلیم، روغتیایي پاملرنې، اوبو، برېښنا، بنسټیزو زیربناوو چارو او روغتیا ساتنې سره نېږدې تړاو لري. دا د حکومت مکلفیت دی، چې دا لومړني خدمات خلکو ته وړاندې کړي چې د دې خدمتونو شتون به په افغانستان کې د عصري اقتصاد او پرمختللې ټولنې بنسټ وي.

د افغانستان په اوسني سیاسي او اقتصادي وضیعت کې حکومت نه شي کولای، اساسي عامه خدمتونه وړاندې کړي، د ورځنې اقتصادي فعالیتونو ملاتړ وکړي او د پام وړ اقتصادي او ټولنیزو پایلو او لاسته راوړنو لپاره اړین ګامونه پورته کړي. له دې امله حکومت اړ دی چې د افغانانو اړتیاوو ته د ځواب ویلو لپاره سیاسي او اقتصادي ظرفیتونه او پالیسي جوړه کړي. حکومت دې ته اړتیا لري چې د اساسي عامه خدماتو د وړاندې کولو په خاطر د ورځنې اقتصادي فعالیتونو ملاتړ وکړي او په بیړنې ډول د اړتیا وړ پروګرامونه بنسټیز کړي. د کور،کلي او سیمه ییزو ټولنو څخه ملاتړ وکړي او هغه پرمختیایي پروژې پیل کړي، چې د ټولنې لومړیتوبونه او اړتیاوې منعکس کړي، دا به د پام وړ اقتصادي او ټولنیزې پایلې ولري. حکومت ته پکار ده؛ چې د افغانستان سیاسي او اقتصادي واقعیتونه درک کړي او اقتصادي، ټولنیز او سیاسي جوړښت بدل کړي، ترڅو افغانستان صنعتي پرمختګ وکړي. حکومت ته دا هم پکاره؛ چې د سیاسي او اقتصادي زیربناوو د جوړولو لپاره بشري زیربنایي ظرفیتونه لوړ کړي. د دې اهدافو لپاره د پالیسیو په ټاکلو کې، حکومت باید نړیوالې ژمنې او د افغانستان مالي ظرفیتونه په پام کې ونیسي- او د لګښتونو د تادیې عملي پلانونه جوړ کړي. د رغنده او دوراني اقتصاد پالیسیو تعقیب او پلي کول به اقتصادي او ټولنیزه همغږي رامنځته کړي او د ویشل شوې ټولنې په یووالي کې به مرسته وکړي. که چیرې یواځې مرکزي اقتصادي سیاستونه پلي شي؛ نو هېواد به د تېر حکومت په څېر د اقتصادي پرمختګ په برخه کې زیانمن او وروسته پاتې شي.

په نړیواله کچه د اقتصادي او استخراجي تړونونو په لاسلیک کې توازن، افغانستان د یو یا څو هېوادونو او تجارتي موسساتو د محدودیت او ترلو څخه ساتي. په قراردادونو کې د افغانستان لنډمهاله او اوږود مهاله سیاسي او اقتصادي ګټې او تاوانونه په جدي او عمیقه توګه څېړل پکار دي او دا قراردادونه باید د کورني او بهرني فکري او سیاسي فشار څخه لېرې وساتل شي. په ۱۹۹۶ زیږدیز کال کې امریکایي یونوکال (UNOCAL) او ارجنټایني بریډاس (BRIDAS) د افغانستان له لارې د ګاز د لیږدولو په پروژه کې علاقه ښودلې وه او خپل پلانونه یې د وخت حکومت ته ورکړي وو؛ خو هغه وخت د امارت چارواکو ونه شو کړلای، چې د افغانستان د

اوږود مهاله سیاسي او اقتصادي ګټې او تاوونه په پوره توګه وڅېړي او د لنډمهاله ګټو او کورني او بهرني سیاسي دریځ او فشار په خاطر یې، د یونوکال پرځای د بریډاس پلان ته هرکلی ووایه او له همدې وروسته د بلکلنټن حکومت له امارت سره دښمني پیل کړه.

د ګلوبلایزېشن په یوویشتمه پېړۍ کې د ځواکمنو هیوادونو سیاسي او اقتصادي قوت او کمزورتیا په پرمختللو هیوادونو د غور وړ تاثیرات لري. له دې کبله اړینه ده، چې کورنۍ وړتیاوې لوړې شي، ترڅو د ګلوبلایزیشن بدې اغیزې ټیټ ترین حالت ته راوستل شي. د بیلګې په توګه په ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ زیږدیزو کلونو کې د کورونو جوړولو او خرڅولو له کبله په ۲۰۰۸ زیږدیز کال په امریکا کې اقتصادي بحران رامنځته شو، چې په چټکتیا سره ټولې نړۍ ته خپور شو. د امریکا حکومت د کورني اقتصاد د ژغورنې په خاطر ۸۰۰ میلیارده ډالر مصرف کړل، چې په دې سره د ۲۰۰۷ زیږدیز کال د یو شپېته اعشاریه څلور (۶۱،۴) ټریلیون د کورونو ارزښت په ۲۰۰۹ زیږدیز کال کې پنځوس اعشاریه څلور (۵۰،۴) ټریلیون ته راولوېد، دې چارې کورني پانګه وال وژغورل اما نړیوال له لویو تاوانونو سره مخ شول. په نړیواله کچه د عربو متحده امارات، مالیزیا او اندونیزیا اقتصاد چې تر ډېره حده د امریکا او لویدیځو هېوادونو سره تړلی و، د لوی اقتصادي بحران سره مخ شو.

په پایله کې که ووایو؛ که افغانستان په سیاسي یا اقتصادي برخو کې په بهرنیو هېوادونو تکیه کوي او د لنډمهاله او اوږود مهاله ګټو او تاوانونو تفکیک ونه کړای شي، نه یواځې دا چې حکومت به په اقتصادي او ټولنیز جوړښت کې مثبت بدلون رانه وستلای شي، بلکې یوه کوچنۍ اقتصادي ځواکمنه طبقه به هم د هیواد پر سیاست او اقتصاد حاکمه کړي. د متوازن سیاست او اقتصاد محوره پالیسیو د جوړولو او عملي کولو لپاره اړینه ده؛ چې په تعلیمي، کلتوري، اقتصادي او سیاسي زیربنایي کارونو تمرکز وشي او د زیربناوو ترڅنګ د بشري منابعو پراختیا، بنسټیز چلند، اهدافو او همغږې اقتصادي ستراتیژیو، حکومتي شفافو پالیسیو او طرزالعملونو ته دقیقه پاملرنه وشي او د ضرورت وړ بدلونونه پکې رامنځته شي.

# د افغانستان اسلامي امارت سیمه‌ییزه ډیپلوماسي

دکتور ذاکر جلالي
د بهرنیو چارو وزارت د دریم سیاسي ریاست رییس

افغانستان د منځنۍ او سویلي اسیا ترمنځ داسې موقعیت لري چې د دواړو ترمنځ د دروازې حیثیت لري. دغه دواړه سیمې یو بل ته په ګڼو برخو کې اړتیا لري. په ځانګړې توګه چې منځنۍ اسیا په اقتصادي او صنعتي لحاظ د غوړېدو په حال کې ده. له طبیعي زېرمو تر کرنیزو او صنعتي تولیداتو پورې اړتیا لري چې سویلي اسیا او بیا یې له هغې لارې نړیوالو بازارونو ته ورسوي. د دې هدف د ترلاسه کولو لپاره د منځنۍ او سویلي اسیا ترمنځ د افغان ټرانس وسپنې پټلۍ پروژه په پام کې ده چې د افغانستان بلخ ولایت د کابل له لارې له پاکستان سره نښلوي.

په ورته وخت کې د انرژۍ د لېږد سترې پروژې هم په پام کې دي، لکه کاسا ۱۰۰۰ چې د قرغزستان برېښنا د تاجکستان او افغانستان له لارې پاکستان ته لېږدوي، یا تاپي پروژه چې د ترکمنستان ګاز د افغانستان او پاکستان له لارې هند ته لېږدوي او همداسې ټاپ پروژه هم ده چې د ترکمنستان برېښنا د افغانستان له لارې پاکستان ته لېږدي.

دا هر څه ځکه کلونه، بلکې لسیزې ځنډېدلي وو چې افغانستان کې تحمیلي جګړه، غیر مسؤوله حکومتولي، فساد او ورته نورې ستونزې وې. له درېوو کلونو راهیسې چې جګړه پای ته رسېدلې، مسؤوله حکومتولي رامنځ ته شوې ده او نظام له فساد څخه پاک شوی، اوس د دغو پروژو د پلي کېدو فرصت برابر شکاري.

د افغانستان اسلامي امارت دغو فرصتونو ته په پام د اقتصادمحوره بهرني سیاست بحث مطرح کړی. له اقتصادمحوره سیاست څخه د افغانستان د حکومت موخه دا ده چې د افغانستان له ژیواکانومیک څخه د وطن د ثبات او اقتصادي شبرازۍ لپاره ګټه پورته کړي. دې ته په پام چې ټوله سیمه د غوړېدو په حال کې ده، په داسې وضعیت کې د افغانستان ژیواکانومیک رول تر پخوا لا زیات اهمیت پیدا کړی. یو امن افغانستان چې سیمه‌ییز اقتصادي نښلون کې مرکزي رول لري، له دې سره د افغانستان ثبات د سیمې هېوادونو ته هم اهمیت پیدا کوي او د هغوی له ملي ګټو سره پیېل کېږي. د اسلامي امارت اقتصادمحوره سیاست په حقیقت کې د افغانستان او سیمې ترمنځ د اشتراک او اجماع مرکزي نقطه ګرځېدلې ده؛ ځکه چې په دې

سیاست کې د افغانستان او سیمې ټولې مشروع ګټې خوندي کېدلای شي.

## د اسیا پېر؛ افغانستان او سیمې ته یو فرصت

په افغانستان کې د امریکا جګړه داسې مهال پای ته ورسېدله چې په سیمه ییزه او نړیواله کچه د نړیوال نظم کې بدلون نښې نښانې په ښکاره کېدو دي. په نړیواله کچه د ځواک مرکز مخ په بدلېدو دي او دې بدلون سره د افغانستان اهمیت لا زیاتېږي. داسې ښکاري چې د ځواک مرکز له لوېدیځ څخه د ختیځ او په ځانګړې توګه د اسیا پر لور راځي، له همدې امله ځینو د «اسیا پېر» ورناندینه کړې ده.

لکه پورته چې ورته اشاره وشوه، افغانستان داسې موقعیت لري، چې په شمال کې د منځنۍ اسیا هېوادونه د انرژۍ د غني زېرمو لرونکي دي، په جنوب کې د سویلي اسیا ګڼ مېشته سیمه ده چې هم په خپله لوی بازار دی او هم د اوبو له لارې ټولې سیمې ته نړیوالو بازارانو سره د نښلون فرصت برابروي. همداراز زموږ په ختیځ کې چین پروت دی، چې اقتصاد یې په ډېرې چټکۍ سره مخ پر ودې دی او د نړۍ ستر تولیدوونکی هېواد دی.

په اقتصادي او صنعتي لحاظ د آسیایي هېوادونو راپورته کېدل او د افغانستان منطقه‌محور اقتصادي لیدلورى د دې زمینه برابروي چې له نوي فرصت څخه افغانستان او شاوخوا هېوادونه په یوه ګټه-ګټه حالت کې ګټمن شي. لکه څنګه

چې افغانستان کې د پردیو ځواکونو نامشروع حضور او د جګړې او بې‌ثباتۍ دوام د اسیا پېر کې د افغانستان رول تت کړی و، په ورته ډول د اشغال له پای او مسوول نظام له رامنځ ته کېدو وروسته له دې فرصت د استفادې ښه زمینه برابره شوې ده.

## نچوړ

افغانستان کې د جګړې پای او د یو مسوول حکومت رامنځ ته کېدو سره د دې فرصت برابر شوی چې افغانستان ته نور له ژیوپولیتیکو او د منفي سیالیو د عینکو پر ځای د ژیواکانومیکو او د اقتصادي همکاریو او همګرایۍ له زاویې وکتل شي. په همدې هدف د افغانستان نوي حکومت له فتحې وروسته د اقتصادمحوره بهرني سیاست اعلان وکړ چې هدف یې د افغانستان په محوریت د سیمه‌ییز اقتصادي اتصال زمینه برابره کړي.

دا چې د افغانستان شاوخوا ته ډېرې غوړېدونکي اقتصادونه افغانستان ته یو فرصت ګڼل کېږي. افغانستان چې د خپل ځانګړي ژیواکانومیک په لرلو سره دغه غوړېدونکي اقتصادونه یو له بل سره وصلوي، په دې نوي پېر کې دا د افغانستان لپاره هم د راپورته کېدو ښه فرصت برابروي. دا ټکی هم د افغانستان نوي حکومت درک کړی او هم د سیمې هېوادونو. په دې اساس سره له ځینو ننګونو د افغانستان اسلامي امارت او د سیمې هېوادونو ترمنځ سیاسي او اقتصادي اړیکې غوړېدلې دي.

# پر ایکس رسنۍ د بهرنیو چارو وزارت د پسرلي او اوړي فصلونو خبرونه

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad
21 Mar, 2024

آقای ژاوشینگ، سفیر چین مقیم کابل با مولوی رحمت الحق فُضیل، معین وزارت امور خارجهٔ ا.ا.ا. ملاقات نمود.
آقای فُضیل پس از خوش‌آمدگویی به سفیر چین گفت که امارت اسلامی به روابط با چین اهمیت ویژه می‌دهد و خواهان گسترش بیشتر روابط میان دو کشور است وی همچنان در مورد تجاوز اخیر پاکستان به حریم افغانستان به جانب چین معلومات مفصل ارائه کرد.
آقای فُضیل افزود که امارت اسلامی افغانستان در قبال کشورهای منطقه بالاخص و کشورهای جهان بالاعم راهبرد روابط مثبت دارد و نمی‌خواهد روابطاش با هیچ طرفی پیچیده شود. معین وزارت امور خارجه گفت که با درنظرداشت سیاست اقتصادمحور افغانستان، منافع ما ایجاب می‌کند تا به‌هدف اتصال و پیشرفت اقتصادی منطقه‌یی، با منطقه روابط مثبت داشته باشیم. سفیر چین گفت که آنها امنیت و ثبات منطقه را به نفع همه کشورهای منطقه به شمول چین می‌دانند و وعده سپرد تا به تلاش‌ها درین راستا ادامه دهد.

**Abdul Qahar Balkhi**
@QaharBalkhi
23 Mar, 2024

IEA-MoFA condemns in the strongest terms the recent terrorist attack in Moscow, Russia, claimed by Deash & considers it a blatant violation of all human standards.
Daesh, which has targeted civilians in Afghanistan & other regions of the world as well, again cearly demonstrated. through this incident that it is a group in the hands of intelligence agencies aimed at defaming Islam & posing a threat to the entire region.
The regional countries must take a coordinated, clear & resolute position against such incidents directed at regional destabilization.

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad
23 Mar, 2024

د هېواد د بهرنیو چارو سرپرست وزیر مولوي امیرخان متقي د افغانستان او پاکستان په اړیکو کې د وروستیو پرمختګونو په اړه په پاکستان کې د افغانستان د سفارت سرپرست راپور واورېد. په ننۍ غونډه کې په پاکستان کې د افغانستان سفارت سرپرست مولوي سردار احمد شکیب د پاکستان له چارواکو سره د خپلو وروستیو ناستو او لیدنو راپور د بهرنیو چارو له سرپرست وزیر مولوي امیرخان متقي صاحب سره شریک کړ، د افغانستان او پاکستان د وروستیو پرمختګونو او اړیکو په اړه یې هراړخیز بحثونه وکړل. د هېواد د بهرنیو چارو وزارت سرپرست د راپور له اورېدو وروسته په اسلام آباد کې د افغانستان سفارت سرپرست ته د دواړو هېوادونو ترمنځ د رامنځته شوې وضعیت او اړیکو په اړه لازمې لارښوونې وکړې.

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad
26 Mar, 2024

د ا.ا.ا. د بهرنیو چارو له وزیر محترم مولوي امیرخان متقي سره دپاکستان هېواد د سوداګرۍ وزارت مرستیال ښاغلي محمد خرم آغا او ورسره راغلي پلاوي وکتل .یاده لېدنه چې موخه یې د سوداګریزو، ترانزیتي او اقتصادي اړیکو پیاوړتیا وه؛ په پیل کې محترم متقي صاحب د دواړو هېوادونو ترمنځ... په یادو برخو کې پر شته ستونزو او د هغوی پر حللارو مفصلې خبرې وکړې. دغه راز د هیواد د بهرنیو چارو وزیر د دواړه هیوادونو ګډومشترکاتو او ولسي ارزښتونو ته ددرناوي په باب څرګنده کړه چې حکومتونه یې د تامین مسؤلیت لري،متقي صاحب همداراز یادونه وکړه او لازمه یې وګڼله چې په سوداګرۍ او ترانزیټ برخو کې دي د شته ستونزو د حل لپاره هم په ګډه او مخلصانه ډول اقدامات وشي.
ورپسې ښاغلي خرم آغا له افغان حکومت څخه افغانستان ته د عوت ورکولو له امله د مننې ترڅنګ وویل چې دوی د افغانستان.ا.ا د صنعت او سوداګرۍ وزارت له مسئولینو سره په خبرو بوخت دي او ډاډ یې وښود. چې انشاءالله په لند وخت کې به په یادو ساحو کې ټولو شته ستونزو ته د امکان تر بریده د حل لارې و مومي .د ناستې په پای کې دواړه لوریو د سوداګریزو او ترانزیتي اړیکو د پراختیا او پیاوړتیا ترڅنګ د ډیورنډ پر فرضي کرښه په عبوري لارو کې د مسافرو، ناروغانو او سوداګرو د تګ راتګ په اړه د اسانتیاوو په رامنځته کولو ټینګار وکړ.

**Abdul Qahar Balkhi**
@QaharBalkhi
28 Mar, 2024

وزارت امور خارجه امارت اسلامی افغانستان اعلان مصادره و ساخت شهرک‌های جدید در منطقه اغوار (رود اردن) فلسطین اشغالی توسط رژیم صهیونیستی را به شدید ترین الفاظ محکوم می‌نماید. اقدامات اخیر رژیم صهیونستی نشانگر عدم التزام آن رژیم به قوانین بین‌المللی بخصوص قانون بشردوستانهٔ بین‌المللی می‌باشد و تداوم همچو اقدامات یک‌جانبه و ادامهٔ چشم‌پوشی از حقوق مردم فلسطین منجر به وخامت بیشتر وضعیت خواهد شد.
امارت اسلامی افغانستان از بازیگران بین‌المللی بخصوص کشورهای مسلمان تاثیرگذار در منطقه توقع دارد تا مسئولیت های قانونی، انسانی و اخلاقی خویش را در راستای حمایت از مردم مظلوم فلسطین ادا نموده، جلو گسترش شهرک‌های غیر قانونی در سرزمین‌های اشغالی را بگیرند.

**Abdul Qahar Balkhi**
@QaharBalkhi
28 Mar, 2024

وزارت امور خارجهٔ امارت اسلامی افغانستان حملهٔ رژیم صهیونیستی بالای بخش قونسلی سفارت جمهوری اسلامی ایران در پایتخت سوریه، دمشق را نقض صریح نورم‌های دیپلوماتیک و اقدامی تحریک‌آمیز برای گسترش ناامنی در منطقه دانسته و آن را با شدیدترین الفاظ محکوم می‌کند. امارت اسلامی افغانستان از کشورهای تأثیرگذار جهان و منطقه می‌خواهد تا جلو جنایات این رژیم در غزه و فراتر از آن را بگیرد. ادامهٔ جنایات این رژیم از یک‌سو به تهدیدی جدی برای امنیت منطقه و جهان مبدل شده و از سویی‌دیگر، پرسش‌هایی جدی در رابطه مؤثریت قوانین و سازمان‌های بین‌المللی ایجاد کرده است.

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad
11 Apr, 2024

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي د حماس غورځنګ د سیاسي دفتر له مشر اسماعیل هنیه سره د نوموړي د اولادونو او کورنۍ د غړو د شهادت د تسلیت په موخه تلیفوني خبرې وکړې. په پیل کې متقي صاحب نوموړي ته ددې غمیزې په اړه د تسلیت مراتب وړاندې کړل او د شهیدانو د شهادت دقبولیت دعا یې وکړه نوموړي هیله وښوده چې د شهیدانو وینې به حتما رنګ راوړي او باور لرو چې ددې قربانیو په نتیجه کې به دفلسطین خاوره دصهیونیستي اشغالګرو له منګولو ازاده شي.
متقي صاحب یادونه وکړه چې افغانستان هم دزیاتو قربانیو په نتیجه کې خپلواکي تر لاسه کړې او د فلسطین مجاهد ولس ته یې د استقامت، ثبات او صبر هیله وکړه. وروسته بناغلي اسماعیل هنیه د متقي صاحب له تسلیت او غمرازۍ شریکولو څخه مننه وکړه او د شهیدانو د شهادت قبولیتا دعا یې وکړه. نوموړي وویل: د افغانستان ملت دازادۍ د مبارزې مخکښان دي او موږ د هغوی پر پلونو مزل کوو، امید دی چې زموږ دغه وینې به هم رنګ راوړي .نوموړي د افغانستان اسلامي امارت زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله او د افغانستان ولس ته خپل سلامونه او نیکې پیروزینې وړاندې کړې.

**Abdul Qahar Balkhi**
@QaharBalkhi
15 Apr, 2024

امروز محترم مولوی امیرخان متقی سرپرست وزارت امور خارجه ا.ا.ا با ۱۲ تن از شخصیت‌های علمی و فرهنگی افغان مقیم کشورهای مختلف اروپایی دیدار نمودند و با ایشان پیرامون مسایل کشور و پیشرفت‌های نظام و انسجام و وحدت افغان‌ها بحث و مشورت‌های لازم داشتند.
سرپرست وزارت امور خارجه کشور در مورد دستآوردهای سیاسی، اقتصادی و اجتماعی امارت اسلامی افغانستان در طول دونیم سال گذشته صحبت مفصل نمودند و بیان داشتند که مردم افغانستان بعد از حدود چهار و نیم دهه جنگ و ناامنی، شاهد یک نظام اسلامی، امنیت سرتاسری و خوشی‌های است که سال‌ها در آرزو آن بودند، ولی تجربه نکرده بودند. محترم مقتی صاحب گفت که افغانستان خانه مشترک همه افغان‌ها است و هر افغان می‌تواند بدون کدام تشویش و نگرانی در بازسازی کشور و پیشرفت و ترقی افغانستان و تحکیم پایه‌های نظام اسلامی سهم داشته باشند و از افغان‌های مقیم خارج خواستند تا در این کاروان ترقی و شگوفایی کشور با حضور فعال شریک شوند.
در ادامه، شخصیت‌های افغان مقیم کشورهای اروپایی از پیشرفت‌های سیاسی، اقتصادی و اجتماعی و تامین امنیت و ثبات سرتاسری در کشور اظهار خشنودی نمودند و بیان داشتند که اجتماعات مختلفی مردمی مقیم کشورهای خارجی از تحول نظام و ثبات کشور حمایت می‌نمایند و تاکید دارند که هیچ گزینه بدیل، جز حمایت از نظام فعلی در کشور وجود ندارد. همچنان، ایشان در جریان صحبت‌های شان برخی پیشنهادات و نظریات اصلاحی شان را به هدف بهبود نظام و پیشرفت کشور با محترم مولوی امیرخان متقی در میان گذاشتند. در پایان تاکید بر ادامه این چنین نشست‌ها و رسیدگی به مشکلات افغان‌های مقیم خارج بخصوص در بخش امور قونسلی داشتند.

18 Apr, 2024

**Abdul Qahar Balkhi**
@QaharBalkhi

د افغانستان اسلامي امارت او د چین ولسي جمهوریت د بهرنیو چارو وزارتونو د اړونـدو سیاسي څانګو پـه مشرۍ د بشري مرستو او اقتصادي بیارغونې د رابطې میکانیزمونو دریيمه ناسته په بیجینګ کې ترسره شوه.

په دې ناسته کې د ا.ا.ا. د بهرنیو چارو وزارت سربېره د صنعت او سوداګرۍ، کانونو او پټرولیم، د کډوالو او بیرته راستنېدونکو چارو او د طبیعي پېښو پر وړاندې د امارت وزارت استازو ګډون درلود. د چین له لوري د هغه هېواد د سوداګرۍ، طبیعي سرچینو، د چین نړیوالې پراختیایي ادارې او نړیوالې همکارۍ ادارو استازو برخه اخیستې وه . په دې ناسته کې د بشري مرستو د میکانیزم په برخه کې په تېرو دوو نیمو کلونو کې د طبیعي پېښو، د اجباري راستنه شوو کډوالو د ځای پر ځای کولو او د روغتیا په برخه کې د چین پر مرستو کتنه وشوه.

افغان پلاوي د چین د مرستو د مؤثریت د لا زیاتېدو په موخه خپل وړاندیزونه او سلا مشورې چینايي اړوندو لوریو سره شریک کړل .چینايي لوري ژمنه وکړه چې افغانستان سره د چین بشري مرستې د افغان لوري د اړتیاوو او لومړیتوبونو په پام کې نیولو سره تنظیم کړي.

چینايي لوري همدارز ژمنه وکړه چې افغانستان سره د اجباري راستنه شوو کډوالو د مېشتېدو په برخه کې د چین د سل میلیونه یوانو مرستو کې به د افغان لوري وړاندیزونه په پام کې ونیسي..

23 Apr, 2024

**Abdul Qahar Balkhi**
@QaharBalkhi

د ا.ا.ا. د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي سره د چین ولسي جمهوریت سفیر ښاغلي ژاو شېنګ وکتل.

په دې ناسته کې د افغانستان او چین تر منځ پر دوه اړخیزو سیاسي، اقتصادي او فرهنګي همکاریو او وروستیو سیمه‌ییزو پرمختګونو خبرې وشوې. د بهرنیو چارو وزیر د دواړو هیوادونو تر منځ په سیاسي، اقتصادي او فرهنګي برخه کې د اړیکو له پراختیا خوښي څرګنده کړه. محترم متقي صاحب وویل چې اسلامي امارت د سوداګرۍ او پانګونې په برخه کې ښه فرصتونه رامنځ ته کړي. د چین ولسي جمهوریت ته د انارو او جلغوزو صادراتو لوړېدل او د مس عینک، واخان دهلیز او څېنو نورو برخو کې د پانګونې په برخه کې پرمختګونه د اسلامي امارت د یادې پالیسۍ ښکاره مثالونه دي.

ښاغلي ژاو شېنګ له افغانستان سره په بېلا بېلو برخو کې پرمختګونه مثبت او باثباته وبلل او زیاته یې کړه چې کوشش کوي په اقتصادي برخه کې لا زیات چینايي سوداګر او پانګوال وهڅوي تر څو په افغانستان کې د اوږدمهاله اقتصادي همکارۍ په نیت خپل رول ولوبوي. ښاغلي سفیر وویل چې دوی د واخان په موضوع کې د دوه اړخیزې همکارۍ په څرنګوالي او امکاناتو باندې غور کوي او هڅه کوي چې له یادې لارې افغان حکومت سره نږدې همکارۍ ته دوام ورکړي. په پای کې د بهرنیو چارو وزیر څرګنده کړه چې په سیمه کې وروستۍ پېښې او پرمختګونه ایجابوي چې افغانستان او چین په پوره همغږۍ خپلو همکاریو ته دوام ورکړي تر څو دواړه هیوادونه وتوانېږي چې خپلې ګډې ګټې په ښه ډول خوندي کړای شي.

11 Apr, 2024

**Abdul Qahar Balkhi**
@QaharBalkhi

د اسلامي همکارۍ سازمان مرستیال او د افغانستان له پاره ځانګړي استازي، ښاغلي طارق علي بخیت، او مل پلاوي یې د بهرنیو چارو له وزیر، محترم مولوي امیر خان متقي، سره ولیدل.

په دې ناستې کې چې د اسلامي همکارۍ سازمان د بشر حقونو، ښځو چارو او ټولنیزو چارو سازمانونو مسؤولینو هم پکې ګډون درلود، د حکومتولۍ په بېلابېلو ډګرونو کې د اسلامي امارت په لاس ته راوړنو، د اسلامي همکارۍ سازمان په ناستو کې د افغانستان د استازولۍ، د افغانستان په اړه د یاد سازمان د پربکړه لیکونو او مخکېنیو لیدنو په ترڅ کې شویو پرېکړو او نورو موضوعاتو په اړه خبرې وشوې.

د بهرنیو چارو وزیر په هیواد کې د ویني تویېدنې د ختمېدو، د امنیت ټینګښت، د داعش ډلې د لـه مینځـه وړلو؛ د روغتیـا، ښـووني او روزنـې، سوداګرۍ او نورو برخو کې د مېرمنو د فعالې ونډې، او د ښځو د اساسي حقونو د تأمین پـه اړه د اسـلامي امـارت د مشرتابه د پـاملرنې؛ د کونډو، یتیمانو او نورو اړمنو سره د اسلامي امارت له خوا د دوامداره مرستو او نورو موضوعاتو په اړه معلومات وړاندې کړل.

ښاغلي طارق علي بخیت د اسلامي همکارۍ سازمان د سرمُنشي د احتراماتو له لېږدولو وروسته وویل چې دا لیدنه له افغانستان سره د یاد سازمان د رغنده تعامل د هغې تګلارې برخه ده چې د افغانستان د اسلامي امارت په اړه یې خپله کړې..

23 Apr, 2024

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزير مولوي امير خان متقي سره د افغانستان لپاره د روسيې فدراسيون د ولسمشر ځانګړي استازي ښاغلي ضمير کابلوف وکتل.

په دې ناسته کې د افغانستان او روسيې ترمنځ پر دوو اړخيزو سياسي او اقتصادي مسايلو، په دوحه کې د م.م. په نوښت د افغانستان لپاره ځانګړو استازو په ګډون د راتلونکې ناستې او پر سيمه‌ييزو مسايلو خبرې اترې وشوې. په سر کې د بهرنيو چارو وزير په سيمه‌ييزو او نړيوالو ناستو کې د روسيې له ملاتړې دريځ قدرداني وکړ او د دواړو هېوادونو ترمنځ يې د سياسي اړيکو او سوداګرۍ پر لا پياوړتيا ټينګار وکړ.

متقي صاحب وويل، چې د افغانستان اړيکې د سيمې له هېوادونو سره مخ په غوړېدو دي او اوسمهال افغانستان د سيمې له نژدې ټولو هېوادونو سره فعال سفارتونه لري.

د بهرنيو چارو وزير روسيې سره د افغانستان اړيکې مهمې وبللې .او ټينګار يې وکړ، چې د افغانستان اوسني ځمکني واقعيتونه بايد درک شياو اوس په افغانستان کې داسې شرايط نه دي واکمن چې د ملګرو ملتونو لخوا د کوم ځانګړي استازي اړتيا دې وي .متقي صاحب زياته کړه، چې د افغانستان حکومت د ملګرو ملتونو سره په خبرو بوخت دی، په دوحه کې د راتلونکې ناستې د اجنډا او ترکيب په اړه له کافي وضاحت وروسته به خپل دريځ څرګند کړي.

د روسيې د ولسمشر ځانګړي استازي پر خپل وار ټينګار وکړ چې هر ډول ناسته چې د افغانستان په اړه جوړېږي، بايد د افغان حکومت هوکړه په کې اخيستل شوې وي .ښاغلي ضمير کابلوف وويل، د دوحې په راتلونکې ناسته کې هم مهمه ده چې ملګري ملتونه د افغانستان د حکومت توافق ولري. ده ټينګار وکړ چېد افغانستان د حکومت له هوکړې پرته دا ډول کومه پايله نه شي لرلای .ده وويل، د نړۍ دولتونه د تماس د څو اړخيزو ميکانيزمونو پر ځای بايد د افغانستان حکومت سره د دوو اړخيزو ميکانيزمونو له لارې اړيکې وپالي.

ښاغلي کابلوف ټينګار وکړ، چې امريکا بايد د افغانستان کنګل کړې شتمنۍ ازادې کړياو پر بانکي نظام يو اړخيز او غيرقانوني بنديزونه پای ته ورسوي او خپل مسؤوليتونه ترسره کړي .د روسيې ځانګړي استازي وويل، چې دواړه هېوادونه بايد لا زياته همغږي ولري .ښاغلي کابلوف هيله څرګنده کړه چې د افغانستان د بهرنيو چارو وزير د روان کال په اوږدو کې مسکو ته سفر وکړي.

24 Apr, 2024

**Ministry of Foreign Affairs - Afghanistan**
@MoFA_Afg

کابل ته راغلي د ماليزيا هيواد د بهرنيو چارو، دفاع، کورنيو چارو وزارتونو استازو، د ماليزيا د صدراعظم د دفتر سلاکارانو او د افغانستان لپاره د ماليزيا ځانګړي استازي د بهرنيو چارو له وزير مولوي امير خان متقي سره وکتل.

ياد لوی پلاوی چې افغانستان ته يې د اړيکو د پراختيا په موخه سفر کړی. په پيل کې يې د ماليزيا هيواد د بهرنيو چارو د وزير ښاغلي داتو سري اسامه حاجي محمد بن حاجي حسن راوړی پيغام متقي صاحب ته وسپاره .د بهرنيو چارو وزير مولوي امير خان متقي د افغانستان او ماليزيا د اولسونو او حکومتونو ترمنځ شته ديپلو ماتيکي، ديني، کلتوري او اقتصادي اړيکې د لا پراخوالي په حال کې وبللې او د تاريخ په اوږدو کې له افغانستان سره د ماليزيا د ښه نيت، د بشري مرستو په ځانګړي ډول د هرات د وروستی زلزلې له قربانيانو سره د ماليزيا هيواد له مرستو مننه وکړه.

د بهرنيو چارو وزير زياته کړه: چې په بېلابېلو برخو کې د سوداګرۍ او پانګونې فرصتونه شته. افغانستان په سياسي او اقتصادي ډګر کې متوازن او اقتصاد محوره بهرنۍ سياست تعقيبوي. له نړيوالې ټولنې سره د افغانستان اړيکې مخ پر پراخېدو دي او له ګاونډيو او سيمه ييزو هېوادونوسره يې ښې اړيکې ټينګې کړې دي .افغانستان لبواله دی چې د جنوب ختيځې اسيا له هېوادونوسره خپلې اړيکې پراخې کړي. قې صاحب وويل: د افغانستان حکومت د ماليزيا له حکومت څخه غواړي چې د هغو ۳۰۰۰ افغانانو لپاره چې اوس مهال په ماليزيا کې ژوند کوي، د روغتيا او زده کړو اسانتياوې برابرې کړي.

د ماليزيا د پلاوي غړو وويل :د ماليزيا حکومت غواړي له افغانستان سره په بېلابېلو برخو کې اړيکې پراخې کړي. مېرمن داتو دوکتور شازلينا د افغانستان سياسي وضعيت مثبت و ارزاوه او تمه يې وښووده چې په نږدې وخت کې به د ماليزيا سوادګريز پلاوی افغانستان ته سفر وکړي .مېرمن داتو دوکتور شازلينا زياته کړه: ماليزيا هوډ لري چې د افغان ديپلوماتانو لپاره د لنډ مهاله روزنيزو پروګرامونو د تنظيم، د معلوماتي ټکنالوجۍ په برخه کې د روزنيزو پروګرامونو، د افغان ملکي خدمتونو د کارکوونکو لپاره د محاسبې او پراختيا او په دې برخه کې د مسلکي پروګرامونو د تنظيم په برخه کې له افغانستان سره همکاري وکړي.

په پای کې د بهرنيو چارو وزير په يادو برخو کې له افغانستان سره د ماليزيا له لېوالتيا او همکاريو مننه وکړه.

24 Apr, 2024

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad

نن د قزاقستان جمهوریت د لومړي وزیر مرستیال ښاغلي سریک ژومانګرین د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي سره وکتل.
په دې ناسته کې د افغانستان او قزاقستان پر دوو اړخیزو سیاسي او اقتصادي اړیکو، دوی اړخیزې سوداګرۍ او په افغانستان کې د قزاقستان د پانګونې په اړه هراړخیزې خبرې وشوې. په سر کې د بهرنیو چارو وزیر قزاقستاني پلاوي ته له هرکلي وروسته وویل چې د دواړو هېوادونو ترمنځ اقتصادي، تجارتي او ټرانزیټي همکارۍ مخ په پراخېدو ده. متقي صاحب وویل، افغانستان لېواله دی چې له قزاقستان سره تجارتي راکړه ورکړه پراخه کړي.
همدا راز د بهرنیو چارو وزیر په افغانستان کې د قزاقستان له سوداګریز رول څخه خوښي څرګنده کړه او هیله یې وکړه چې افغانستان کې د کانونو، رېل پټلۍ او برښنايي حکومتولۍ برخو کې پانګونه وکړي. متقي صاحب همدا راز یادونه وکړه چې قزاقستان کې د افغانستان د ډیپلوماتیک ماموریت کچه لوړه شي. د بهرنیو چارو وزیر وویل، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو له پراختیا سره پکار ده چې د کابل او استانې ترمنځ مستقیمې الوتنې پیل شي. د قزاقستان د لومړي وزیر مرستیال په خپل وار افغانستان سره د خپل هېواد اړیکې مخ په پراخېدو وګڼلې او زیاته یې کړه چې د افغانستان صادرات قزاقستان ته نژدې دوه برابره زیات شوي دي..

5 May, 2024

**Ministry of Foreign Affairs - Afghanistan**
@MoFA_Afg

The delegation of the Islamic Emirate of Afghanistan participated in the 15th Summit of the OIC held in Banjul, the capital of Republic of the Gambia. The OIC summit, which is attended by heads of states, foreign ministers and diplomats of OIC member states is being held… in Banjul on 4th & 5th May.
IEA-MoFA spokesman, and the DG of the Department of International Organizations participated in this summit at the official invitation extended by OIC. Besides participating in the main event, IEA-delegation also held meetings & exchanged views… on a range of bilateral and multilateral matters with the high-level officials of the OIC & representatives of member states on the sidelines.

5 May, 2024

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad

نن د روغتیا نړیوال سازمان او یونیسف ګډ لوړپوړي پلاوي د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي سره وکتل.
په ناسته کې چې د عامې روغتیا وزیر ډاکټر قلندر عباد هم حضور درلود په افغانستان کې ډیولیو پرضد پرهخو،دافغانستان اوسیمې ترمنځ دروغتیا په اړه خبرې اترې اوورته نوروموضوعاتو خبرې وشوې. د نړیوال روغتیایي سازمان استازې ډاکټرې حنان بلخي وویل، پر داسې یوې طرحې کار کوي چې د افغانستان او پاکستان د حکومتونو ترمنځ د روغتیا ډیالوګ ته زمینه برابره کړي.
آغلې بلخي غوښتنه وکړه چې د دواړو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیران د دغه ډیالوګ مشري وکړي. د نړیوال روغتیایي سازمان استازې همدا راز وویل، چې د بل ګټس بنسټ ۱۵ میلیونه ډالر افغانستان سره د بنسټیزو روغتیایي چارو لپاره ځانګړي کړي دي. همدا راز د سعودي عربستان، قطر او متحده عربي اماراتو حکومتونو هم په خپل وار درې درې میلیونه ډالرو په کچه افغانستان سره د روغتیا په برخه کې. مرسته په پام کې نیولې ده. همدا راز د بل ګټس بنسټ افغانستان او پاکستان کې د پولیو د له منځه تګ لپاره ۵۰۰ میلیونه ډالر په پام کې نیولي دي..

7 May, 2024

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad

Today, the members of the UN-Advisory Committee on Financial and Administrative Affairs, consisting of 21 members from different countries, accompanied by the representatives of UNAMA called on IEA-Foreign Minister, Mawlawi Amir Khan Muttaqi.
In this meeting, the discussions were held in regards to the representation of Afghanistan in the United Nations, the effective management of humanitarian assistance and the implementation of potential infrastructural projects in Afghanistan. At the outset, FM Muttaqi provided information about the rehabilitation of drug addicts in Afghanistan, the provision of financial support of orphans and the prominent role of Afghan women in the private sector. Meanwhile, FM Muttaqi said that after years of wars and instability, the opportunity has been provided to start regional economic projects such as Qushtepa Canal, Casa-1000, Afghan Trans and other similar projects in Afghanistan.

Extending gratitude to the United Nations for humanitarian assistance, FM Muttaqi said that the IEA does not want Afghans to be reliant on the humanitarian aid of others for a long time, rather Afghanistan should be self-reliant with implementation of major projects. Mr. Bachar Bong Abdullah, the head of the committee, said that the purpose of the trip is to evaluate UNAMA's affairs in Afghanistan and trying to highlight the priorities of the Afghan side in order to present them to the UN-General Assembly. Talking about the significant positive developments in ensuring security, and urban facilities in the life of people in Afghanistan, the member of the committee, Mr. Amjad Qaid Ahmed Al-Kumim said that after Kabul, he will also visit the provinces to closely observe the situation in Afghanistan and present his suggestions to the relevant authorities.

In the end, highlighting the priorities of Afghanistan, FM Muttaqi said that the humanitarian assistance should be spent in a mannaer that could help people get jobs, domestic products and industry may thrive and UN bodies fulfil their needs from Afghan markets to support Afghanistan's private sector. FM Muttaqi mentioned the growth of medium-sized businesses, attention to developmental projects, providing alternative livelihoods to farmers and not relying on humanitarian aid as remaining priorities.

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad
7 May, 2024

نن مالي او اداري چارو کې د ملګرو ملتونو مشورتي کمېټې غړو چې دبېلابېلو هیوادو ۲۱ غړي لري او د یوناما استازو د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي سره وکتل.

په دې ناسته کې په ملګرو ملتونوکې دافغانستان پر استازیتوب، بشري مرستو پر مؤثریت او په افغانستانکې د انکشافي پروژو د ملاتړ پر امکان خبرې اترې وشوې.

په سر کې د بهرنیو چارو وزیر په افغانستان کې د معتادینو د درملنې، د یتیمانو مالي ملاتړ او د خصوصي سکتور په برخه کې د افغانو ښځو د بارز رول په اړه خبرې وکړې. همداراز متقي صاحب وویل، چې له کلونو جګړو او بې‌ثباتیو وروسته اوس د دېفرصت برابر شوی چې د افغانستان په خاوره کې د سیمه‌ییزو اقتصادي پروژو لکه تاپي، کاسا-۱۰۰۰ او افغان ټرانس رېل او ورته نورو پروژو پیل ته لارې چارې برابرې شي.

مولوي امیر خان متقي د ملګرو ملتونو له بشري مرستو د مننې ترڅنګ وویل، چې اسلامي امارت نه غواړي چې افغانان د اوږد مهال لپارهد نورو په بشري مرستو متکي وي، بلکې په کار دي چې داسې پروژې پلي شي، چې د افغانستان ملي اقتصاد پر خپلو پښو ودرېږي..

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad
9 May, 2024

په متحده عربي اماراتو کې د ۴۲ کسه بندي افغانانو د خلاصون پریکړه وشوه.

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت په لارښوونه او همغږۍ په کوربه هېواد کې د افغانستان سفارت د پرلپسې هڅو په نتیجه کې ۴۲ کسه افغانان چې د یاد هېواد په بېلابېلو زندانونو کې بندیان ؤ. د اماراتو حکومت د مشرتابه د عفوې له فرمان څخه برخمن شول چې یو تعداد یې آزاد او پاتې کسان به په نېژدې راتلونکې کې آزاد شي.

د افغانستان اسلامي امارت ژمن دی چې دنړۍ‌په هر ګوټ کې د خپلو وګړو له احوال څخه ځان باخبره وساتي او د هغوی دستونزو دحل په موخه به ان شاءالله کوټلي ګامونه اخلي.

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad
12 May, 2024

د ۱.۱.۱ د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي سره د جمهوري ازبکستان د ټرانسپورټ وزیر ښاغلي الهام محکموف، د جمهوري ازبکستان د ولسمشر ځانګړي استازي ښاغلي عصمت الله ایرګشوف او مل پلاوي وکتل.

په دې ناسته کې د افغانستان او ازبکستان ترمنځ پر دوه اړخیزو سیاسي، اقتصادي، د سیمه ییز اتصال ټرانزیټي پروژو، سوداګرۍ، ګډې پانګونې، کلتوري او په سیمه کې د افغانستان او ازبکستان پر ټرانزیټي رول او اهمیت خبرې اترې وکړې.

په پیل کې د بهرنیو چارو وزیر په سیاسي او اقتصادي مسایلو کې د ازبکستان له ملاتړي رول نه مننه وکړه او د دې هڅو پر تداوم او پراختیا یې ټینګار وکړ متقي صاحب وویل چې افغانستان وروسته له اوږدې مودې د امن او ثبات مسیر ته راګرځېدلی او دا د ازبکستان، نورو ګاونډیو او سیمې لپاره یو ښه فرصتدی چې له موقع استفاده وکړي او د اسلامي امارت د اقتصاد محوره سیمه ییز اتصال پالیسي چې نه یواځې افغانستان بلکې ټولو ګاونډیو او سیمې لپاره به د اقتصادي او امنیتي ثبات زیري ولري ملاتړ وکړي او د سترو اقتصادي پروژو تطبیق لپاره موجوده هڅې نورې هم

چټکې کړي.
د ازبکستان د ټرانسپورټ وزیر ښاغلي الهام محکموف د بهرنیو چارو وزارت له ګرم استقبال او د دې سفر زمینه سازۍ له امله مننه وکړه او زیاته یې کړه چې داخل له یو قوي تخنیکي ټیم سره چې د خصوصي سکټور سربېره د اوسپنې پټلۍ، جیولوجي او معدن تکړه انجنیران یې ملتیا کوي کابل ته راغلي یو او غواړو افغانانو ته ښه زیري ولرو.
ښاغلي محکموف په خپلو خبرو کې و ویل چې د جمهوري ازبکستان رئیس جمهور او رهبري افغانستان ته جدي توجه لري او غواړم د رهبري په استازیتوب تاسې ته ډاډ درکړم چې موږ د اسلامي امارت له هغې پالیسۍ ملاتړ کوو چې غواړي افغانستان د سیمې پر ټرانزیټي مرکز بدل شي..

Hafiz Zia Ahmad
@HafizZiaAhmad
12 May, 2024

د ملګرو ملتونو د بشري چارو د همغږۍ اداري (اوچا) عملیاتي رئیسي ادیم وسورنو د ا.ا.ا. بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي سره وکتل.
په پیل کې آغلي ادیم د هیواد په مختلفو برخو کې د وروستیو سیلابونو په اړه خپله غمرازي شریکه کړه او هوډ یې څرګند کړ چې هرڅه ژر به خپل ټیمونه متضررو سیمو ته ولیږي. نوموړې همدارز د اسلامي امارت او د ملګرو ملتونو د ادارو تر منځ د همغږۍ کمیټې د رامنځ ته کولو په برخې کې د بهرنیو چارو وزارت له هڅو مننه وکړه.
متقي صاحب د مرستو په جلب او همغږۍ کې د اوچا له هڅو مننه وکړه او په هیواد کې یې وروستیو سیلابونو ته په اشارې سره وویل په داسې حال کې چې افغانستان د اقلیم په خرابۍ کې هیڅ ونډه نه لري، خو له دغې پدیدې څخه تر ټولو زیات متضرر شوی. نوموړي هغه هیوادونه د اقلیمي بدلون د ناوړه اغېزو مسؤولیت اخیستنې ته راوبلل چې د اقلیم په خرابۍ کې لویه ونډه لري، خو د زیان د جبیرې په برخه کې هیڅ نه کوي.
متقي صاحب وویل غواړم ستاسې له لارې دا پیغام ورسوم چې افغانستان چې څومره متضرر شوی هغومره مرستې ته اړتیا لري او باید په نړیوالو اقلیمي غونډو کې یې موقف واورېدل شي او د اقلیمي بدلون اړوندو مالي صندوقونو ته لاسرسی ولري..

Hafiz Zia Ahmad
@HafizZiaAhmad
13 May, 2024

د ا.ا.ا. د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي سره د جاپان سفیرتاکویوشي کوره‌مایا وکتل
د ا.ا.ا. د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي سره د جاپان سفیرتاکویوشي کورمایا وکتل .په دې ناسته کې د افغانستان او جاپان پر دوو اړخیزو اړیکو، په ځانګړې توګه د جاپان د بشري مرستو او سیمه‌ییزو مسایلو په اړه خبرې اترې وشوې.
په پیل کې د بهرنیو چارو وزیر جاپان سره د افغانستان اړیکې تاریخي وبللې او د دوو اړخیزو اړیکو د لا پراختیا هیله یې څرګنده کړه .متقي صاحب د سیمې او نړۍ له ګنو هېوادونو سره د اسلامي امارت د بهرنیو اړیکو د پراختیا په اړه هم هراړخیزې خبرې وکړې او زیاته یې کړه چې د امارت په تړاو د سیمې د هېوادونو د درک کچې له لوړېدو سره. تعاملات زیات شوي دي.
مولوي امیر خان متقي افغانانو سره د جاپان له بشري مرستو مننه وکړه او په ننګرهار کې د تتسو ناکامورا د کار بشپړتیا یې ښه پرمختګ وباله .د جاپان سفیر وویل، چې هېواد یې دافغان حکومت لاستهراوړنې درک کوي او له همدې امله یې سفارت پرانیستی دی ترڅو افغان حکومت سرهله نژدې کار وکړي او څمکني واقعیتونه خپل حکومت او ولس ته منعکس کړي..

Ministry of Foreign Affairs - Afghanistan
@MoFA_Afg
17 May, 2024

در نتیجهٔ سیلاب‌های اخیر در افغانستان که صدها شهروند را شهید، هزاران خانه را ویران و فاجعهٔ بزرگ انسانی را به بار آورد، به‌ویژه باشندگان ولایت بغلان بیش از سایر مناطق و شهروندان آسیب دیدند که امارت اسلامی با توجه به همه امکانات موجود به کمک و حمایت آنان اقدامات جدی و تلاش‌های سریع را آغاز کرده است. در عین حال، کشورهای مختلف منطقه وجهان و سازمان‌های بین‌المللی نیز تسلیت و همدردی خود را با افغان‌ها ابراز کرده اند. در این راستا قطر، امارات متحدهٔ عرب، عربستان سعودی، کویت، پاکستان، ایران، ترکیه، هند، روسیه، چین، ازبیکستان، آذربایجان، جاپان، مصر، کشورهای افریقای جنوبی، ایالات متحدهٔ امریکا، سازمان ملل متحد، سازمان همکاری اسلامی و اتحادیهٔ اروپا با ابراز همدردی به‌خاطر بحران انسانی در افغانستان، ابراز همدردی نموده اند.
وزارت امور خارجهٔ امارت اسلامی افغانستان این احساس همدردی با افغانستان را شایستهٔ تقدیر می‌داند و به نمایندگی از مردم افغانستان از آنها سپاس‌گزاری می‌کند. همدلی انسانی دسترسی مردم به مشکلات و اطمینان آنها را ممکن می‌سازد و آن را احساس مشترک همدلی بین‌المللی اسلامی و انسانی می‌داند.

19 May, 2024

**Ministry of Foreign Affairs - Afghanistan**
@MoFA_Afg

The Ministry of Foreign Affairs of the Islamic Emirate of Afghanistan is monitoring, with concern and hope, the fate of the aircraft carrying the Islamic Republic of Iran President H.E. Ibrahim Raisi; Iranian Minister, Mr. Hossein Amir Abdullahian and their companions, and hopes that the rescue team would succeed in locating Mr. President, Minister of Foreign Affairs, and their companions.
The Islamic Emirate of Afghanistan stands by the government and people of its brotherly and neighboring country in these hard times and hopes that no untoward incident will happen.

19 May, 2024

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزير مولوي امير خان متقي سره په سياسي برخه کې د ملګرو ملتونو د سرمُنشي مرستيالې آغلې روزمېري ډيکارلو وکتل.
په دې ناسته کې د افغانستان او ملګرو ملتونو ترمنځ پر اړيکو، دوحې ۳مه ناسته او د ناستې پر اجنډا او ترکيب هراړخيزې خبرې وشوې. په سر کې د سرمُنشي مرستيالې وويل، چې دوحه ۳ کې به د غړو هېوادونو او نړيوالو سازمانونو د استازو ترڅنګ دا ځل د نړيوال بانک او اسيايي بانک استازي هم ګډون کوي. آغلې روزمېري ډيکارلو وويل، چې دوحه ۳ کې به د بحث محورونه پر مالي او بانکي موضوعاتو، مخدره موادو پـرخلاف مبارزه او کرونډګرو ته بديل معيشيت او همداراز د اقليم بدلون او ترې افغانستان ته راټوکېدلو زيانونو په اړه خبرې اترې وشي. آغلې مرستيالې وويل چې د افغانستان حکومت سره تعامل غوارې او بنايي واضح بحثونه او د دواړو لوريو پر غوښتنو او اندېښنو په اړه خبرې اترې ولرو.
د بهرنيو چارو وزير وويل، افغانستان د ملګرو ملتونو سازمان له لومړنيو غړو هېوادونو څخه و او د دغه سازمان سره يې فعالې اړيکې درلـودې او اوس اسلامي امارت هم يوناما سره په کابل کې ښې اړيکې لري..

20 May, 2024

**Ministry of Foreign Affairs - Afghanistan**
@MoFA_Afg

قبل از ظهر امروز، آقای حسن کاظمی قُمی، نماینده ویژه رئیس‌جمهوری اسلامی و سفیر ایران در کابل با محترم مولوی امیر خـان متقـی، وزیـر امور خارجه ا.ا.افغانستان ملاقات نمودند.
در این دیدار وزیر امور خارجه پیام تسلیت و همدردی امارت اسلامی و ملـت افغانسـتان را در پیونـد بـه سـانحهٔ سـقوط هلیکوپتر و جـان بـاختن جلالتمآب دکتر سید ابراهیم رئیسی، رئیس‌جمهوری اسلامی ایران، آقای امیر عبداللهیان وزیر امور خارجه و شـماری از همراهـان شـان را بیـان داشته و از خداوند متعال برای جان باختگان بهشت‌برین و برای ملت ایران صبر جمیل استدعا نمودند.
وزیر امور خارجهٔ کشور نقش و زعامت رئیس‌جمهوری و وزیر امور خارجه ج.ا. ایران را در توسعهٔ همکاری‌های منطقه‌ای بخصـوص بـا افغانسـتان ارزشمند خواند .متعاقباً آقای قُمی ضمن سپاسگزاری از پیام تسلیت حکومت ومردم افغانستان، بیان داشتند که حکومت و مردم ایران پیام تسلیت حکومت و مردم افغانستان را در نخستین لحظات حادثه دریافت نموده است..

22 May, 2024

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad

د ا.ا.ا د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخند په مشرۍ يو لوړ رتبه پلاوي چې د بهرنيو چارو وزير مولوي امير خـان متقي يې ملتيا کوله، د ايران اسلامي جمهوريت د جمهور رئيس سيد ابراهيم رئيسي او بهرنيو چـارو وزيـر حسين امير عبـداللهيان د فـاتحې پـه مراسمو کې ګډون وکړ. د اسلامي امارت پلاوی د ايران اسلامي جمهوريت له نوي سرپرست ولسمشر دکتورمحمدمخبر او بهرنيو چـارو وزيـر بـاقر علي کني سره هم وکتل او د ايران اسلامي جمهوريت له حکومت او ولس سره يې په دې سترمصيبت کې ځان شريک وګاڼه،په ياده پېښه کـې د قربانيانو روح ته دعا او پسماندګانو ته د صبر غوښتنه وکړه.

23 May, 2024

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad

پرون د ايران پلازمېنه تهران کې، د ا. ا. ا. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر او د بهرنيو چارو وزير مولوي امير خان متقي د فلسطين د اسلامي مقاومت غورځنګ (حماس) د سياسي دفتر له مشر اسماعيل هنية سره وکتل.

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad
23 May, 2024

تېره ورځ د ایران پلازمېنه تهران کې، د ا. ا. ا. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر او د بهرنیو چارو وزیـر مولوي امیـر خان متقي د قطر هیواد له امیر شیخ تمیم بن حمد آل ثاني، صدراعظم او د بهرنیو چارو وزیر محمد بن عبدالرحمن آل ثاني سره وکتل.

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad
23 May, 2024

د ا.ا.ا. بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي د مهاجرت اداري رئیس ښاغلي اتیلا توروس په مشرۍ د ترکیې جمهوریت لوړپـوړي پـلاوي سره ولیدل.
په یاده ناسته کې متقي صاحب د ترکیې هیواد بشري مرستو څخه قدرداني کولو تر څنګ د مهاجرت پدیدې، غیر منظم مهاجرت مدیریت په برخه کې د دوه اړخیزو همکاریو پیاوړتیا او د مافیایي کړیو پر وړاندې د مبارزې په اړه خبرې اترې وکړې. ښاغلي اتیلا توروس په افغانستان کې د شته امنیت څخه خوښي څرګنده کړه او یادونه یې وکړه چې افغان وګړي د غیر منظم مهاجرت په لړ کې د ګڼو ننګونو او ژوند ګواښونکو ستونزو سره مخ دي او د یاد مهاجرت مدیریت لپاره په کار ده چې قانوني مهاجرت پراختیا ومومي.
متقي صاحب د ترکیې لوري څخه افغانانو ته د ویزې صدور بهیر اسانه کولو غوښتنه وکړه، تر څو افغانان په قانوني ډول یاد هېواد ته سفر وکـړي.
